مورچل

دکابل دعسکرو په باب،
دامریکایانو اندېښنې !!

لسم کال، لومړۍ گڼه، پرلپسې ۸۹ مه، ربیع الثانی ۱۴۳۷ هـ ق، جنوري ۲۰۱۶ م

دکابل اداري ، دسولې اوجگړې واک ...

پر طلوع بريد ولې دښمنان وبوږنول ؟

افغانستان؛ د نړۍ دويم فاسد هېواد!

عدالت وامانت دو شرط حکمرانی

متمدنه نړۍ د بدماشانو په ولکه کې...

کفارو سره دجگړې داختتام اسباب ...

طلوع، چرا به سمت غروب سوق داده شد؟

سرود (موسيقي) !!



مورچل

لسم کال، لومړی، پرلپسې ۸۹مه ګڼه، ربیع الثاني ۱۴۳۷هـ ق، جنوري ۲۰۱۶م ق

علمي، سیاسي او جهادي میاشتنۍ خپرونه

لړلیک

ګڼه	مطلب	مخ
۱	سرمقاله.....	۱
۲	د کابل اداري دسولې او جګړې واک له چا سره دی!؟	۳
۳	پرطلوع برید ولې دښمنان وبوږنول؟	۶
۴	د جهاد فقهي مسائل	۹
۵	ایډز دیرغل یوه بله کرغیړنه ډالۍ	۱۴
۶	په اسلام کې د چاروا کو او ولس ترمینځ اړیکې	۱۶
۷	افغانستان دنړۍ دویم فاسد هېواد!	۲۵
۸	طالبانو په طلوع مفت اذان وکړ	۲۹
۹	د خالد بن ولید رضی الله عنه له معسکر څخه راپورتاژ	۳۱
۱۰	سرود دونه (موسیقي)	۳۷
۱۱	په تعیش کې د وب انسان ته!	۴۱
۱۲	طلوع چرا به سمت غروب سوق داده شد؟	۴۴
۱۳	د مورچل دارالافتاء	۴۶
۱۴	عدالت وامانت دوشرط حکمرانی	۴۹
۱۵	د اسلام او نصرانیت د جګړې تاریخ!	۵۲
۱۶	مسلمان ته د کفر نسبت کول دهغه د وژلو اندول دي	۵۵
۱۷	متمدنه نړۍ دیدماشانو په ولکه کې...	۵۶
۱۸	جنګي جنایتونه (جنوري)	۵۹
۱۹	د دعوت، ارشاد، جلب او جذب کمیسیون.....	۶۱
۲۰	د مورچل وړمې	۶۲
۲۱	د ۲۰۱۶ز کال د جنوري میاشت جهادي خبرونه	۶۴

د امتیاز خاوند

دافغانستان اسلامي امارت
دفرهنګي چارو کمیسیون

مسؤل مدیر

شکـــور (شفق)

کتـــنپلاوی

حســـن خپل | ایـــوب صـــافی
حســـن زوی | حکمت بغلانی
زبیر مســـافر | حافـظ سعـــید

تخنیکي چارې

دفرهنګي کمیسیون تخنیکي څانګه

مکاتباتي ادرس

پته: کابل بنار، پنځمه حوزه، دمجلې دفتر
E-mail: baakhtaraf@yahoo.com

بسم الله الرحمن الرحيم

سرمقاله

دکابل دعسکرو په باب،

دامریکایانو اندیښنې!!

دناتواو امریکا مشرانوبه تیر(۲۰۱۵ز)کال ویل ،چې مونږ له افغانستان نه پداسې حال کې وځو،چې ترشا یو غښتلی پوځ پریږدو،اودا عسکر به دطالبانوپروړاندې دکابل اداره له ننګونو ساتي،دامریکایانو او لویدیځوالوپه لاس نړدي (۴۰۰۰۰۰) عسکرددوئ په آند داسې یو پیاوړی ځواک بلل کیده، چې داسلامي امارت مجاهدین به یې رانسکور نکړای شي ،اودخپلو غربي سلاکارانوپه لارښوونه به دخپل مسلمان ولس تلپاتي مقابله کوي ،خودژمي په سروکې دمجاهدینوپه سوځونکیوبارودي لوخړو لوخړن شویو اشغالګرو اوس دادی ومنله ،چې ددوئ په لاس روزل شوي عسکر نور دمجاهدینو ځواک ته نشي ټینګیدای اوپه اړه یې اندیښنې مخ په ډیریدو دي .

د امریکا د بهرنیو چارو پخوانۍ وزیره او راتلونکو تاکنو ته نومانده (هیلري کلنټن) وایي :چې په افغانستان کې د دوئ روزل شوي عسکر له طالبانو سره په سخته جګړه بوخت دي، هغې پخپلو خبرو کې افغان عسکر په سخته جګړه کې ښکېل وګڼل ا و ویې ویل چې د دوئ عسکر یې همکار دي....

کابل ته دغربي مشرانو نا اعلان شوي پرله پسې- منډې ترړې او دامریکایي چارواکیودډول اندیښنې دا په ډاګه کوي، چې کابل کې دخارجیانو په لاس جوړه شوي اداره او دارګ په مانۍ کې ددوه سرې ادارې پلورل شوي چارواکې داسلامي امارت دمجاهدینو ترکلکې کلابندۍ لاندې دي،اودخپلې سیاسي بقا وروستۍ شیبې شمارې .

دتیرو کلونوځخه په زیاته پیمانه سړ کال دهیواد دشمال سیمو په ولسونوکې داسلامي امارت پراخه نفوذ او جهادي پرمختګونوداشغالګرو امریکایانو رواني حالت ترسیورې لاندې

راوستی او پدې باورې شوي ،چې نورهغه وخت تير شوی، چې دوئ دخپل هوا او هوس دپوره کيدو لپاره دخپلو شوموعزايمومولا دکابل په متزلزل پوځ وترې او پدې دادە شي، چې نور نوافغانستان ددوئ همیشنی مستعمره ده اوکولای يې شي، چې دنوروسيمه ايزو هيوادونوپرخلاف يې ديوې مورچې په حيث وکاروي!

تير(۲۰۱۵ز)کال چې اشغالگرو او غلامانو ته يې ددرندو تلفاتواوشکستونوکال و،نړيوالو وليدل، چې دوئ ددومره مادي اوفردي قوت سره سره بيا هم دمجاهدينوحربي مورال نه يوازې داچې راتيټ نکړای شو، بلکې دهيوادپه ټولوافاقوکې يې درانده زيانونه وروړول او ددوئ هغه شعارونه يې درواغ ثابت کړل ،چې ويل به يې چې ددوئ په لاس غلامه روزل شوي اردو کولای شي، چې دمجاهدينوبريدونه تضعيف کړي اوپه وړاندې بريالی جگړه وکړي ،برعکس هغه څه مشاهده شول، چې ددوئ داټکلونو او وړاندوينوسره په څرګند تضاد کې وو.

ددې نه مخکې روسانوهم افغانستان اشغال کړاو تر خپل شکست وروسته يې دکابل اردو ديوه مجهز او وسله وال ځواک په شکل پريښوده ،هغه اردو چې دناتو په لاس له روزل شوي او مسلح شوي اردو نه څو برابره غښتلې او مجاربوي مورال يې تردې ډير لوړ و،پدې ونه توانيده، چې دخپل مجاهدولس په مقابل کې تر پايه جگړه وکړي، نوداچې خپلو امريکايي بادارانو ورته په ميراث کې زړې وسلې ،بې کاره شوبلې او يو څو چورلکې پريښې، ديوداسې معنوي ځواک په مقابل کې به څنګه بريمن ثابت شي ،چې هغوئ ديوې اسلامي او ملي مفکورې په دردولو سربيره دخپل مسلمان ولس ملاتړ هم له ځانه سره لري !

مونږ پداسې حال کې چې دې موجوده وخت کې، داسلامي امارت دمجاهدينو عظمت ،برم او فداکاری دګرد اسلامي امت دسرلوړی لپاره رومبی ګام بولو،يرغلګرو امريکايانوته وريادوو! چې هيڅکله افغانستان کې دبهرنيانوپه لاس جوړ شوی نظام او جوړ شوی پوځ متداوم پايښت ندی کړی ،هرمستبد هيوادچې دخپل استبدادپه توره دوره کې داسې کوم ګامونه اخستي، دهغو ئ داخراج نه لږ وروسته يې په لاسونوجوړې شوي ادانې، هم پرځمکه راپريوتې اودخاورو سره خاورې شوي ،نوښايې دهيواد اوسني اشغال ګرهم ددا سې لحظاتو نږدې مشاهده وکړي او هغه څه ډير ژروګورې، چې تمه يې نه درلوده !! انشاءالله تعالی

عبید - تنویر

دکـــــــابل اداري

دسولې اوجګړې واک له چا سره دی!؟

غربي رسنیو دامریکایي پوځي سرچینو په حواله راپور ورکړی ، چې دنیویارک د«فورت درام » له پوځي اډې څخه به ۵۰۰ امریکایي عسکر افغانستان ته ولیږدول شي ، ترڅو دکابل رژیم داردو په جنګي مهارت اوانسجام کې مرسته وکړي.

دوه اونۍ وړاندې هم امریکایي سرچینو خبرورکړی وو، چې دهلمند جګړې لپاره دنیویارک له یادي اډې نه یوه خاصه کوماندویی قطعه چې شمیر څو سوه تنه وو را استولي وه ، چې په رومبي ګام مجاهدینو دنومورې قطعي یوه ډیره پخه اومجهزه چورلکه چې نیږدي ۲۰ تنه امریکایی کومندویي عسکر پکې موجود وو دمارجي د(سیفون) په سیمه له منځه یوړه ، همداراز یوه بله چورلکه چې په دغه سیمه دکیناستلو په حالت کې وه دبرید نښه وګرځوله ، ویل کیږي چې په یاده پیښه کې هم ګڼو امریکایي عسکرو ته تلفات اوښتی .

دواړه پیښي امریکایی قواوو ته له درانه زیان او جنګي ټکان څخه ډکي وي ، ځکه ویل کیږي دنیویارک په یاده اډه کې دامریکا هغه مجهز ترین عسکر ځای پرځای دي چې په ډیرو اړینو اوحساسو حالاتو کې ترینه استفاده کیږي ، ولې افغانستان ته یې له راتګ سره سم دامریکا دغو پرمختللو پوځیانودروند اومناسب ځواب ولید اود «فورت درام » اډې مهارتونه او ځواک یې ترجدي پوښتني لاندې راوست .

امریکایی جنرال کمبل ، ویلي ، چې افغانستان ته ځکه نور امریکایي پوځیان راوغوښتل شول ، چې هلته ددواعش ګوابښ اوخطره په زیاتیدو ده.

خو دکابل رژیم دلوړ پوړو چارواکو په لاس په دې ورستیو کې داسې کره اومستند شواهد رسنیو ته په ډاګه شول چې امریکایان مخامخ دننګرهار

په ولایت کې دداعش ډلې دتمویل اوانتقال چاري په مخ بیایي او چورلکي یې دهغوی په نقلولو کې مصروفي لیدل شوي ، دغه راز دا معلومات هم مخې ته راغلي چې دکابل دملي امنیت اداره دداعشیانو دتجهیز، پالنې دنده لري اوحتی ټپیان یې دامنیت په خاصو روغتونو کې تداوي کیږي .

بهر حال ، امریکایان دانسانیت اوخصوصا دمسلمانانو هغه ابدي دښمنان دي ، چې جوړښت یې د جنګ جګړواودنورو ملتونو دحقوقودغصبولوپه نتیجه کې راغلی ، دخپلوګټو او منافعو لپاره یې په مظلومو پرګنو داتوم بم له استعمال څخه هم مخ ندی اړولی ،په میلونونو انسانان یې د استعماري ګټو دتپلو په خاطر له منځه وړي .

که دتیرو ۱۵ کلونو په اوږدو کې دامریکایانو وحشتونه او غداری صرف په افغانستان کې حساب اوکتنه ورته وشي چې ترکومو پلمو اویهانو لاندې یې دافغان مظلوم ولس په خلاف ترسره کړي او لا دوام ورکوي هرچا ته به دامریکایانو اصلي ځیره ښکاره او معلومه شي ، چې دځه لپاره افغانستان ته راغلي وو ، څه یې وکړل او څه یې په راتلونکي کې په پام کې دي .

امریکایانوپه ۲۰۰۱ کال افغانستان تردې حربي لاندې اشغال کړ چې هلته دالقاعده ټرپوال جهادي تنظیم مخفي اومهمې اډې لري ، دهغو له منځه وړل غواړي اوترڅنګ یې دافغانستان رغونه کوي ، کله چې ولیدل شول دالقاعده مجاهدینو په عراق کې دامریکایانو په خلاف په جهاد پیل وکړ اوله افغانستان څخه عراق ته منتقل شول ، نو بیا یې ځوکاله داپلمه کاروله چې لاهم خطره ددې شته چ ې القاعده بیا راوګرځي ،

بیا یې له خپلو غلامانوسره دامنیتي ټرون موضوع راګرمه کړه ، چې که ټرون ورسره لاسلیک شي ، دوئ به نورخپل پوځیان له افغانستان څخه وباسي ، محدود شمیر عسکر به یې په څو پوځي اډو کې پاتي وي ، تردې چې په مخامخ جګړو کې به هم نوره برخه نه اخلي ، خومکارو امریکایي واکمنو خپلې دغه ژمنې یوه په بل پسې- ماتې کړي ، کله به یې دطالبانو قوي کیدل ددې لامل باله چې که دوی دلته زیاتې قواوي ونلري طالبان به دکابل اداره نسکوره کړي ، کله به یې په اسیا کې دروسانو ګوابنونه خطرناک ګڼل چې امریکایي قواوي نه وي ، نو ممکن روسان په افغانستان کې مداخله وکړي .

اواوس یې دادی دداعش خطردومره لوی او ستر وباله چې که نور امریکایي عسکر

افغانستان ته رانشي نوداعش به په ننګرهار ولکه وکړي.

خو هرڅوک پوهيږي چې په افغانستان دالقاعده اډې نشته، کوم درس چې پخواني شوروي ليدلی اوسني روسان به هيڅکله په افغانستان کې دمداخلي اراده ونکړي اوپاتې شوه دداعش پروژه ، هرڅوک پوه دي چې داعش دامريکا پلي لښکري دي چې امريکايي شتون اوپراختيا ته زمينه سازي کوي.

پاتي شو دافغانستان اسلامي امارت! امريکايانو په وچ حماقت او بې موجبه ډول دامارت دسقوط لپاره يرغل وکړ ، ۱۵ کاله يې دهغو په ضد خپل هرډول تکنالوجی ، پوځيان او تريليونونه ډالر ولګول، خو امارت يې نه له خپل دريځ څخه واړاوه اونه يې کمزوري کړل شول، که امريکايان لدې ورسته دافکر کوي چې دداعش په پرسولو او تقويه کولو به اسلامي امارت ته بنسټيزي ستونزي جوړي کړای شي، دابه دامريکايانو يو بل حماقت او جهل وي.

ددې ترڅنګ امريکايان عجيبي لوبې په مخ بيا يې، له يوه لوري داسلامي امارت په خلاف، دکابل ملي اردو ، اربکيان او داعشيان تقويه کوي او له يوې نه بلې ورځې ته دامريکايي پوځيانو او نوو کوماندويی ځواکونو دراوستلو اعلانونه کوي، خو په عين حال کې دسولې اومذاکراتو ډنډوره هم خاموشه نه پريږدي ،خپلو لاسپوڅو اوهم دافغانستان ګاونډيو هيوادو ته ددغې پروژې دتودولو لپاره جعلي او ناممکنه خاکي په لاس ورکوي، دځوجانبه ناستو اوکنفرانسونو طرحې ورته رسموي اوفکر کوي چې په همدې تيرايستونکو برنامو به افغانان تيرباسي، چې امريکايان سولې او مذاکراتو ته هم سخت ترې او ليوال دي.

په ګاونډيو هيوادونو کې هم دغه انصاف نشته چې ورته ووايي دسولې لپاره داضرور نده چې تاسې لږ تر لږه داشغال لمنه تړله کړی لښکري وباسي اوداسلامي امارت حقه غوښتنو ته غوږ کيږدی.

داچې نور پوځيان راغواړی او دجګړې لپاره دداعش نوي ډګر اوميدان جوړوی، په دغه صورت کې به سوله او مذاکرات کوم اهميت او ارزښت ولري؟

امريکايان بايد په دې پوه وي ، چې ترهغو ددوئ ناولي حضور که هغه لږ وي يادير په افغانستان کې موجود وي او دافغانستان دحريم اوحرمت غصبولوته دوام ور کوي ، شوني نده چې دافغانانو جهادي اودیني داعيه به دهغوئ په وړاندې خاموشه او بې جذبې ووسي !! . ؟

أبوعابد

پرطلوع بريدولې دښمنان وبوږنول؟

د روان ۲۰۱۶ ميلادي کال د جنوری په شلمه مازديکر څه باندې پنځه بجې د اسلامي امارت د استشهادي کنډک يوه قهرمان فدايي مجاهد د پلازمينې کابل په جنوب لويديځ ځنډه کې د روسيې سفارت ته نږدې د طلوع نيوز اړوند د کابورا پرودکشن د کارکوونکو په کاستر موټر فدايي برید وکړ چې په نتيجه کې يې يو پوليس او ۷ تنه د طلوع نيوز کارکوونکي ووژل شول او لسګونه نور تپيان شول.

طلوع نيوز په افغانستان کې د موبي کروپ په نوم د يوه پراخ رسنيز شرکت اړوند تيليويزوني چينل دی،موبي کروپ چې د يوه افغاني الاصله استرالياييي سعدمحسني لخوا رهبري کيږي په افغانستان کې تر ټولو ستر رسنيز شرکت بلل کيږي، چې د طلوع، طلوع نيوز او لمر په نامه تيليويزوني شبکې، د ارمان او اراکوزيا په نومونو راديويي خپرونې او کابورا پرودکشن په نوم د بهرنيو فلمونو د دوبلاژ / ژباړې شبکې لري.

موبي کروپ چې په افغانستان کې د غرب د فکري او فرهنګي يرغل د پرمخ بيولو لپاره جوړ او طراحي شوی دی، د امريکا، انګليس، استراليا، فرانسې او نورو کفري هيوادونو تحت الحمايه يو قوي او د پراخو مالي امکاناتو درلودونکی سازمان دی،موبي کروپ چې مخامخ له امريکايي سفارت څخه اکمالېږي او قومنده اخلي، تر واک لاندې رسنيزې شبکې يې يوازې هغه څه خپروي چې د غربيانو لخوا ورته القاء کيږي.

موبي کروب او د طلوع نيوز غوندې تر واک لاندې شبکې يې دومره ځواکمنې دي، چې حتی د ارک او کوداکي حکومت د چارواکو هم زور نه پرې رسيږي، له تيرو څوارلسو کلونو راهيسې دغه شبکې تخريب کارانه فعاليت کوي، له فضل هادي شينواري نيولې، تر کريم خرم، سياف، کرزي ،صبغت الله

مجددي،قيام الدين كشاف او ډيرو چارواکو پورې حکومتي لوړپوړو بيا بيا په څرګنده په دې شبکه اعتراضونه کړي، دهغو خپرونې يې زيان اړونکي بللې خو هيڅ يو هم نه دی توانيدلی چې د طلوع د خودسری په مخکې ودريږي يا يې خپرونې تر يوه حده سانسور کړي،چې ددې تولې خودسری او بيباکی علت يې هماغه د غربيانو ځواکمن ملاتړ او ورسره نږدې تعلقات دي.

طلوع نيوز چې په بيلابيلو برخو کې يې افغانستان او مجاهد اولس ته پراخ فرهنګي او درانه زيانونه اړولي، د اسلامي احکامو د توهين او تمسخر هڅه يې کړې،د افغاني هويت او درنښت د کمرنکه کولو او تيټ ښودلو لپاره يې کمپاين کړی،د ملي وحدت د نړولو زيار يې ايستلی ، د روان جهاد او مجاهدينو په خلاف يې تر تولو زهرجن تبليغات کړي،د فحشاء ، فسق، اختلاط، بې حيايي،بې سترې،دمتوب، قمار،زنا، لواطت،سود،ارتداد او دغسې نورو ناروا کړنو د ترويج لپاره يې پراخ کمپاين کړی له دېره وخته داسې تقاضا موجوده وه چې اسلامي امارت يې بايد په وراندې يو جدي او قاطع دريځ ونيسي او له روانو بيباکانه کړنو يې راوکړځوي.

بالاخره نږدې دری مياشتې وراندې د اسلامي امارت نظامي کميسيون لخوا د يوې اعلاميه په خپرولو سره طلوع او د يک تي وي په نوم تيلويزوني شبکې د مجاهدينو په نظامي اهدافو کې شاملې او رسما ورته اخطار ورکړل شو.

د جنوری په شلمه په طلوع نيوز له بريد وروسته په تولنيزو شبکو کې افغانانو او د نړی مسلمانانو د مجاهدينو دغه اقدام په پراخه کچه وستايه او هغه يې د اسلامي فرهنګ او فکر د ساتنې په لاره کې يوموجه او ضروري اقدام وباله.

بالمقابل په نړيواله کچه خصوصا په کفري عالم کې د طلوع نيوز سره د خواخوږی او همبستګی يو داسې کمپاين پيل شو چې هيڅ تمه يې نه کيدله،د نړی نږدې تولو کفري هيوادونواوسازمانونو په طلوع نيوز بريد وغانده.

د فرانسې حکومت، د امریکا حکومت،د یونیسکو سازمان، د بې سرحده خبریالانو سازمان،د ملل متحد امنیت شورا او داسې نورو سازمانونو په لوړه سطحه په دې اړوند غبرګون وښود، د غربي فکري مراکزو او د لادینیت د ترویج مؤسساتو په طلوع برید د بیان په ازادی برید وباله او سخت غبرګون يې پرې وښود، دکابل ګوډاګي واکمن اشرف غنی وویل چې پر طلوع برید د افغانستان په اساسي قانون برید دی، مطلب داچې هغه څه چې طلوع يې خپروي دده دحکومت د اساسي قانون سره برابر دي او کلکه ننګه يې کوي.

دې ټول جریان جوته کړه،چې طلوع کوم عادي تیلویزیوني شبکه نه بلکې د غرب د نړیوال فکری پرغل یوه اساسي اود حساب وړ مهره ده نوځکه يې ملاتړ او غمرازی ته توله کفري نړی په داسې اتفاق رادانګي.

له طلوع سره د کفارو دغه ډول ملاتړ دا خبره ثابتوي، چې په افغانستان کې موجودې رسنی باید له سره وپیژندل شي،له سره تعریف او هویت يې تحلیل شي. دا رسنی په اصل کې رسنی نه بلکې لکه څنګه چې د اسلامي امارت ویاند مجاهد صاحب څرګنده کړې استخباراتي شبکي دي چې کنټرول يې د ددښمنو هیوادونو د استخباراتو په لاس کې دی.

تر دې پخوا مجاهدینو ددښمن په مختلفو اماکنو او مراکزو بریدونه کړي، د باګرام اډه، دامریکا سفارت ،په اریانا هوټل کې د سي آی اې مرکز، دایساف قومنداني او دغسې نور کن حساس مراکز يې په نښه کړي، خو د یوه په اړه هم غربیانو دومره توند عکس العمل نه دی ظاهر کړی. مګر داچې په طلوع د برید په اړه دومره توند عکس العمل ظاهروي، معلومیږي چې مجاهدینو دا ځل ددوی تر ټولو حساس رګ ته لاس وروړی،ددوی په تر ټولو مهمه او د حساب وړ نکته يې برید کړی او هدف يې په نښه ډول تشخیص کړی دی.

د طلوع په ننګه د کفري نړی دریدل او توند غبرګون اظهارول د طلوع نیوز، یک ټبي وي او دغسې نورو شبکو چې ظاهرا د رسنیو تر نوم لاندې فعالیت کوي،هویت او ماهیت نور هم بربنډوي او له کفري جهټونو سره ددوی ټینګ او نږدې تراو څرګندوي.

زموږ ټولنه باید دغه شبکې وپیژني، ددوی له لیدلو او خبرو منلو څخه ځان وساتي، دوی ته باید ددښمنو تبلیغاتي رسنیو په نظر وګوري او د له منځه وړل او بې اعتباره کولو لپاره يې ټولې ممکنه هڅې په کار واچوي.

له کفري رسنیو د پاک او محفوظ افغانستان په هیله

فقهي مسائل

دجهاد

پنځه ویشتمه برخه

مفتي ابومحمد (حفاظ)

کفارو سره دجګړې داختتام اسباب:

اسلام منل، جزیه ورکول، سوله کول!

دې بحث کې به داسلامي شریعت له نظره هغه سببونه په ګوته کړو،چې ددې عواملواو اسبابو په رامینځ ته کیدو له کفارو سره جګړه پای ته رسیږي او شرعاً دجهاد یا قتال حکم نور ور سره دمشروعیت یا جواز په درجه کې نه پاتي کیږي ،دقتال داختتام رومبی سبب دکفارو مسلمانیدل او اسلام منل دي ،دویم سبب ددوئ څخه دجزیې اخستل دي او دریم سبب یا دقتال دختمیدو دلیل له کفارو سره مهادنت ،مصالحت ،سوله یا موادعه ده، چې له املې یې نور ورسره دجګړې جواز نه پاتي کیږي او کوم مجوز بیا پکې نوي ،نور تفصیل به یې وروسته لیکنه کې راشي ،هغه داچې له کفارو سره سوله یاهدنه مطلقاً نده جایز ،بلکې خپل خپل شروط او شرائط لري چې دشروطودپوره کیدو په صورت کې دمشروعیت بنه خپلوي .

دعلم فقه کتابونو تقریباً په عام ډول دجګړې دختمیدوهمدافوق الذکر وجوهات لیکلي دي ،او همدا دریواړه سببونه دقتال داختتام شرعي طریقې ښیي ،په المکتبة الشاملة کې دالموسوعة الفقیة ج۱۷ص۱۷۴)په حواله داسې لیکي : یقاتل أهل الکتاب والمجوس حتّی یسلموا أو یعطوا الجزیة عن ید وهم صاغرون ، لأنّه یجوز إقرارهم علی دینهم بالجزیة..... وینتهي القتال کذلك بالهدنة ، إذ هي لغة المصالحة .....، که څه هم دلته یوازې داهل کتابو او مجوسیانوپه هکله داسلام او جزیې ذکر راغلی، خو وروسته به روښانه شي ،چې دصلحې په شان دجزیې مسئله کې هم دائمه اربعه وو رح اختلاف رانقل شوی ،خو دحضرت امام ابوحنیفه رح په مذهب کې له بت پرستانوڅخه په غیر بیلا توپیره له ټولو کفارو څخه جزیه اخستل مشروع دي او دنورو مذاهبو آندونه سره پدې اړوند جلا جلا دي.

داسلامي شریعت له مخې به له اهل کتابو او مجوسیانوسره ترهغې پورې مسلمانان جنګیږي ،ترڅو پورې یا مسلمانان نشي او یاجزیه ونه منې ،ددې دواړوصورتونوپه موجودیت کې بیا ددوئ سره دقتال اجازه نشته ،نو بیا حکم دادی، چې ددوئ نفسونه او مالونه محفوظ دي او له

منځه وړل يې مجاز ندي ،لکه چې په يو حديث شريف کې راځي « عن جابر قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم أمرت أن أقاتل الناس حتى يقولوا لا إله إلا الله فإذا قالوها عصموا مني دماءهم وأموالهم إلا بحقها وحسابهم على الله ثم قرأ (إنما أنت مذكر لست عليهم بمصيطر) قال أبو عيسى- هذا حديث حسن صحيح /رواه الترمذى ».

کفار په درې ډوله دي:

-١اهل کتاب (يهود او نصارى)يا هغه څوک چې تورات او انجيل مني، لکه فرنجه ، سامره او يا نور.....ددوئ حکم دادى ،چې که اسلام يې نه مانه ،نو جزيه به پرې کښيودل شي ا و په خپل دين باندې دپاتې کيدو اجازه به ورکړل شي ،چې په جزيه به له قتال نه بچ شي ،٢- هغه دي، چې دوئ شبهة کتاب دي ،ددوئ حکم هم داهل کتابو په شان دى ،جزيه به پرې کښيښودل شي او خپل دين باندې پاتې شي ،د(حسن بن محمدبن علي) نه روايت راغلى : چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د(هجر) مجوسوته خط وليږه او اسلام ته يې راوبلل ،نو چا چې پکې اسلام قبول کړ ، دهغه حکم خو څرګند دى او چاچې اسلام ونه مانه ، هغه باندې يې جزيه کښيښوده ،خو ددوئ نه ذبيحه خوړل کيږي او نه ورسره داهل کتابو په شان نکاح کيږي او نه جايز ده .

٣-هغه کافر دي :چې نه کتاب لري او نه شبهة کتاب ،دوئ ددوئ نه په غير نور دي ،لکه بت پرستان اونور کفار ،ددوئ دشرعي حکم په باره کې دمذاهبو دائمه وو رح اختلاف دى ،امام شافعي رح او دحنابله وو رح ظاهر مذهب دا دى، چې نه ترې جزيه قبليږي،او نه به ترې له اسلام پرته بل دين قبليږي ،مګر دحضرت امام ابوحنيفه رح په مذهب اودحضرت امام احمد بن حنبل رح په يورايت دعربو له (عبدة الاثان)بت پرستانوڅخه په غير له ټولو کفارو څخه جزيه قبليداى شي ،داڅکه چې دوئ له استرقاق سره په دين پاتې کيداى شي، نو له جزيې سره ددوئ پر خپل دين پاتې کيدلو کې کوم حرج نشته ،او دحضرت امام لک رح نه نقل شوي ،چې دقريشو له کفارو څخه پرته له ټولو کفارو نه جزيه قبليږي .....

له کفارو سوله ،يا مهادنه او موادعه:

دسولې لپاره په شريعت او لغت کې دا کلمات کارول شوي : هدنة ،مهادنة ،موادعة ،مصالحة او مسالمة .... دهدنة لغوي معنى په العرب اوالمصباح المنير کې داسې کړي چې : الْهُدْنَةُ فِي اللُّغَةِ : السُّكُونُ : مَأْخُوذٌ مِنْ هَدَنَ الأَمْرُ ، أَوِ الشَّخْصُ يَهْدِنُ هُدُونًا . سَكَنَ بَعْدَ الْهَيْجِ ، وَيُقَالُ : هَادَنَهُ مُهَادَنَةً : صَالَحَهُ چې دهدنة په شان ددې ټولومترادفو کلماتولغوي مفهوم په يوه معنى راڅرخي او هغه دسولې مفهوم دى، چې هرڅوک يې په مزيده شرحه او معنى نه پوهيږي ،او دهدنةً اصطلاحي معنى فقهاوو په متقاربو معانيو سره کړي ،چې احنافو فقهاووپه (الفتاوى الهندية ٢ / ١٩٦ ، والاختيار ٤ / ١٢٠ ، وتحفة الفقهاء ٣ / ٤٠٤ .) فقهي کتابونو کې داسې کړي چې : هِيَ الصُّلْحُ عَلَى تَرْكِ الْقِتَالِ مُدَّةً بِمَالٍ أَوْ

بِغَيْرِ مَالٍ إِذَا رَأَى الإِمَامُ مَصْلَحَةً فِي ذَلِكَ.ژ: هغه سوله ده، چې پاچا يادوخت امام يې دکوم مصلحت پر اساس دځه معلومې مودې لپاره په مال يا په غير له مال څخه دقتال په پريښودلو سره وکړي.

مالکيان حضرات يې په جواهر الإکليل ۱/ ۲۵۹، اومواهب الجليل ۳/ ۳٦۰ داسې تعريف کوي::چې له حربي کافرسره دځه مودي لپاره دمسلمان دسولې هغه عقد ته وايي چې لَيْسَ هُوَ فِيهَا تَحْتَ حُكْمِ الإِسْلامِ).او شوافع حضرات يې په مغني المحتاج ۴ / ۲٦۰، نهاية المحتاج ۸ / ۱۰۰ ، تحفة المحتاج ۹)کې داسې تعريف کوي: چې داله اهل حربو سره تر يو معلومې مودې پورې، په عوض يا په غير له عوضه دجهاد په ترک باندې سولې ته وايي، عام لدې نه چې په دين مستقر پاتې کيږي او که نه.

دمشروعيت دليل يې: دسورت براءة لومړی آيت کريمه چې فرمايي : (إِلاَّ الَّذِينَ عَاهَدتُّم مِّنَ الْمُشْرِكِينَ ثُمَّ لَمْ يَنقُصُوكُمْ شَيْئًا وَلَمْ يُظَاهِرُواْ عَلَيْكُمْ أَحَدًا فَأَتِمُّواْ إِلَيْهِمْ عَهْدَهُمْ إِلَى مُدَّتِهِمْ)دويم دليل يې : له قريشو سره درسول الله صلى الله عليه وسلم لس کلنه دسولې معاهده لاسليکول او دريم دليل يې :دامت اجماع ده ، دامت داجماع پر اساس فی الجمله له نا مسلمانو وګړوسره، سوله جايز ده ،البته حکم يې دجواز په مرتبه کې دی، نه دوجوب په درجه کې ،خو که اړتيا پيښه شوه، نو بيا وجوب ته هم رسيږي ،دابه هغه صورت وي ،چې مسلمانانوته دعدم مصالحت په صورت کې له کفارو نه ضرر رسيږي ،لکه همدا مسئله په دې کتابونو کې په ښه تفصيل سره شته :(البحر الرائق ۵ / ۸۵، والبدائع ۷ / ۱۰۸ ، شرح الزرقاني ۳ / ۱۴۸ ، وحاشية الدسوقي ۲ / ۲۰۰ ، تحفة المحتاج ۹ / ۳۰۴ ، مغني المحتاج ۴/ ۲٦۰ ، روضة الطالبين ۱۰ / ۳۳۴ ، المغني ۸ / ۴٦۰، الحاوي ۱۸ / ۴۰٦ .)...

لنډه داچې ،فی الجمله له کفارو سره سوله جايز ده او دوخت امام کولای شي، چې دمصلحت له مخې ورسره سوله وکړي ،ځکه داسوله يا معاهده که څه هم ظاهراً روغه جوړه ده ،مګرپه معنوي لحاظ سره جهاد دی ،ځکه مسلمانان دکفارو له ضرره خلاصيږي، خو که مصلحت پکې نه وو،بياداسوله نده روا، چې تفصيل به يې وروسته راشي.

امام مرغيناني رح دحنفي مذهب په شاهکار کتاب (هدايه ج اص ۱۸۱)کې ليکي : چې کله امام يا دوخت حاکم دا غوره وليدله، چې له اهل حربو يا ددوئ ديوې ډلې سره سوله وکړي او دې کې مسلمانانو ته مصلحت وو،نو دسورت الانفال د(٦۱)آيت او له اهل مکه ووسره، درسول الله صلى الله عليه وسلم دحديبيې مقام کې دصلحې په نيت دلس کلنې معاهدې دلاسليکولو په لامل او ددې وجه نه چې ،دا موادعه يا سوله چې مسلمانانوته پکې خير وي، دمعنی په لحاظ جهاد دی، ځکه چې دې کې مقصود دشر دفع وي او دا پرې ترلاسه کيږي، کوم داسې ممانعت نشته، چې سوله منع کړي او نه سوله کول باک لري ،دسولې لپاره چې کومه موده (خلورمياشتي

،لس کاله ....)مروي ده، هغه لازمي نده، داسې هم کیدای شي چې دسولې وخت نور هم وغځیږي ،البته که سوله کې کوم مصلحت نه وو، نو بیا نده جایز، ځکه دې کې دجهاد ترک دی ،لکه دې عبارت کې چې لیکي : وإذا رأى الإمام أن يصالح أهل الحرب أو فريقا منهم وكان في ذلك مصلحة للمسلمين فلا بأس به لقوله تعالى : { وإن جنحوا للسلم فاجنح لها وتوكل على الله } [الأنفال : ٦١] ووادع رسول الله عليه الصلاة و السلام أهل مكة عام الحديبية على أن يضع الحرب بينه وبينهم عشر سنين ولأن الموادعة جهاد معنى إذا كان خيرا للمسلمين لأن المقصود وهو دفع الشر- حاصل به ولا يقتصر- الحكم على المدة المروية لتعدي المعنى إلى ما زاد عليها بخلاف ما إذا لم يكن خيرا لأنه ترك الجهاد صورة ومعنى...../ الهداية ج ١ص ٣٨١).

په (فتح القدير ج١٢ص ٤٢٦)کې هم د سولې دمشروعیت په باب داسې ورته عبارت راغلی چې :(وَإِذَا رَأَى الْإِمَامُ أَنْ يُصَالِحَ أَهْلَ الْحَرْبِ أَوْ فَرِيقًا مِنْهُمْ وَكَانَ ذَلِكَ مَصْلَحَةً لِلْمُسْلِمِينَ فَلَا بَأْسَ بِهِ.....)) ،په البحرالرائق شرح کنزالدقائق ج١٣ص٣١٧/کې هم کفارو سره دسولې په باب داسې لیکي :(وَنُصَالِحُهُمْ وَلَوْ بِمَالٍ لَوْ خَيْرًا) لِقَوْلِهِ تَعَالَى { ، وَإِنْ جَنَحُوا لِلسَّلْمِ فَاجْنَحْ لَهَا } وَوَادَعَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَهْلَ مَكَّةَ عَامَ الْحُدَيْبِيَةِ عَلَى أَنْ يَضَعَ الْحَرْبَ بَيْنَهُ وَبَيْنَهُمْ عَشْرَ سِنِينَ.....) دسولې دجواز په مورد کې امام کاسانی رح همداسې په (بدائع الصنائع ج١٥ص٣١٥) کې ورته عبارت را نقل کړی اونورو فقهي کې هم دسولې دجواز ورته عبارات لیکل شوي دي ،چې دضرورت پر وخت چې کله دوخت امام له کفارو سره سوله کې مصلحت ووینې، بیایې عقد کول باک نلري ،او که کوم خیر پکې مسلمانانو ته نه وو،نو بیایې کول ناروا دي.

کافرو سره دمهادنې (سولې) عقدشرطونه :

لومړی شرط : احناف علماء وا یې چې داحتمي نده، چې دسولې دمعاهدې لاسلیک دې، دوخت د امام یا دده دمرستیال ا و نائب په اجازه او اذن وشي، بلکې دمسلمانانو یو ډله هم کولای شي، چې له کفارو سره دسولې ټړون دامام له اجازې پرته لاسلیک کړي ،دلیل دادی چې اصل خبره په مهادنه یا سوله کې مصلحت دی او چې کله هم مصلحت وکتل شو،نو بیا عقد موادعه په هرحال کې ورسره جواز لري،بل داچې لکه څنګه چې له اهل حربو سره سوله یا موادعه بالاتفاق جایز ده ،نو دا سوله هم ددې یو ډول دی داهم روا ده ،دامسئله په نورپوره تفصیل سره(بدائع الصنائع ٧/ ١٠٨ ، اوالبحر الرائق ٥ / ٨٥)کې کتلای شئ !

هغه اصل چې احناف علماء یې له کفارو دسولې مجوز او مبیح بولي، هغه مصلحت دی او کله چې مصلحت چا وکوت، نو که دامام اذن ورسره نوي، نو هم سوله ورسره کولای شي ،په بدائع الصنائع کې لیکي چې : وَلَا يُشْتَرَطُ إذْنُ الْإِمَامِ بِالْمُوَادَعَةِ ، حَتَّى لَوْ وَادَعَهُمْ الْإِمَامُ ، أَوْ فَرِيقٌ

مِنْ الْمُسْلِمِينَ مِنْ غَيْرِ إذْنِ الْإِمَامِ جَازَتْ مُوَادَعَتُهُمْ ؛ لِأَنَّ الْمُعَوَّلَ عَلَيْهِ كَوْنُ عَقْدِ الْمُوَادَعَةِ مَصْلَحَةً لِلْمُسْلِمِينَ وَقَدْ وُجِدَ .(بدائع الصنائع ج15ص315).

احناف فقهاء رح پدې داسې تفريح کوي: چې که چيرته يو مسلمان اهل حربو سره د(1000)دينارو په بدل کې سوله وکړي ،نو دا موادعه يې رواده ،اومسلمانانو ته نده جايز، چې ددې اهل حربو پر خلاف غزاوکړي او که کوم يو حربي يې ترې وواژه، نو ديت به يې ورکوي ،داځکه چې ديوه مسلمان سوله داسې حکم لري،لکه تولو چې کړي وي ،که چيرته امام يا پاچا پدې سولې نا خبره وو،تردې چې يو کال پرې تير شو، نو امام به ددې يوه مسلمان دسولې عقد تنفيذ کړي او هغه مال يا پيسې چې بدل المصالحة کې يې اخستې ،تر ې واخلې او بيت المال کې به يې واچوي ،که چيرته امام ته دکال له تيريدو نه مخکې معلومات وشو،چې کوم شخص په يوازې سر له اهل حربو سره سوله کړي، نو دلته بيا دده اختيار دی ،که خوښه يې وه ،نو پدې معاهده به عمل وکړي او پيسې به ترې بيت المال ته داخلې کړي او که خوښه يې نه وه ،يا يې مصلحت ونه ليد ،نو عقد به يې فسخ کړي او پيسې به کفارو ته بيرته مسترد کړي او دجهاد اعلان به ورته وکړي (الموسوعة الفقية ج17ص174).

دويمه رأيه چې په (الموسوعة الفقهية)کې ورته دجمهورو يا ددرې گونومذاهبو دامامانو (مالکيان ،شافعيان او حنابله رح)مذهب ويل شوی ،هغه دادی : چې دمهادنې يا مصالحې لپاره دامام او پاچا اذن شرط دی ،يعنې دوئ وايي چې ددې مصالحې عاقد به پخپله امام يا به يې نائب وي ،داځکه چې دې کې خطر شته او بل داچې حضرت رسول الله صلى الله عليه وسلم پخپله دبنې قريظوسره دسولې معاهده وکړه، همداسې يې داهل مکه وو سره دحديبيې مشهوره مصالحه هم پخپله وکړه او پدې ترتيب يې صفوان بن اميه ته هم پخپله دفتحې په کال امن ورکړ(أخرجه أبو داود (٣ /، أخرجه مالك في الموطأ (٢ / ٥٤٤ ـ ط الحلبي) من حديث ابن شهاب مرسلا .) ، بل داچې که چيرته نورو ته دمهادنې تجويز ورکړل شي، نو به په جهادي چاروکې تعطيل راولي او په امام به افتيات وي ،پدې توګه دا سې معاهدې ،ديوه امام په حيث درسول الله صلى الله عليه وسلم له تصرفاتو څخه دي ،دادتبليغ ،قضاء او افتاء غوندې ندي ،نو له هغه څخه وروسته دا چاري دوخت امام ته پاتي کيږي او دې سره به دسنتو اتباع راشي (الحاوي الكبير ١٨ / ٤٢٧ ، تحفة المحتاج ٩ / ٣٠٥ ، المغني ٨/ ٤٦١ ـ ٤٦٢ ، جواهر الإكليل ١ / ٢٦٩/ الفروق للقرافي ١ / ٢٠٦ .

نوددې فوق الذكر دلايلو څخه له ورايه ښکاري چې دسولې دعقد لاسليک کوونکی او عاقدبه پخپله امام يا به يې مرستيال وي، دده له اجازې نه بغير مصالحه له کفارو سره صحت نلري.

نوربيا .....

ایډز د یرغل

یوه بله کرغیړنه ډالۍ

سید شریف

ایډز هغه مهلکه ناروغي ده چې هر کال د ملیونونو انسانانو ژوند اخلي، د روغتیا د نړیوال سازمان د راپور په اساس هره ورځ په نړۍ کې ۳۳۰۰تنه د ایډز له امله ساه ورکوي یعني ایډز هره دقیقه د یو سړي ژوند اخلي، خو له نیکه مرغه ددې ناروغۍ څخه اسلامي نړۍ تردیره حده خوندي ده، سبب یې دادی چې په اسلامي نړۍ کې د غرب غوندې بې بندوباره ازادي او فحاشي نه شته .

ځیرونکي ایډز عمده علتونه د مخدره موادو اعتیاد، ناخوندي جراحي عملیات او تر ټولو لوی علت یې ناروا جنسي اړیکې او اخلاقي فساد په ګوته کوي.

اشغالګرو او لاسپوڅي رژیم یې افغانستان او افغان ولس ته خورا دیر امنیتي، سیاسي،فرهنګي ،اقتصادي، صنعتي، اخلاقي او عقیدوي زیانونه وارول،مثلا:

په بې ۵۲ او ایف۱۶ الوتکو، کروز راکټونو او خوشیې بمونو یې ښځې او ماشومان شهیدان کړل.

کلي، کورنه، فصلونه او شنه باغونه یې په بمونو ا وبلدوزونو وران ویجاړ کړل.

په بهر او داخل کې یې زندانونه دافغان ولس له مختلفو قشرونو، بوډاګانو،ماشومانو او ځوانانو څخه ډک کړل.

اخلاقي فساد ته یې وده ورکړه، زمینه یې ورته برابره کړه او دلا ترویج په موخه یې مختلف بنسټونه په مختلفو نومونو باندې جوړ کړل.

اداري فساد یې اوج ته ورساوه،تر دې چې خو ځله افغانستان په نړیواله کچه اداري فساد کې لومړی او دوهم مقام وګاته.

قومي او لساني تعصب یې رامنځته کړ ځینې پردې پال جهتونه او شخصیتونه یې

ددې لپاره استخدام کړي چي وخت ناوخت د واحد افغان ولس ترمنځ د کرکي او تفرق تخمونه وشيندي.

په ځلونو يې دمسلمان ملت د مومن به کتاب(قران عظيم الشان) بې عزتي وکړه او داسلامي ارزښتونو او شعايرو سپکاوی يې تکرار کړ.

افغان فرهنګ يې تحريف کړ او د غربي منحط او لغړ کلچر د دودولو په موخه يې د مدني او فرهنګي ټولنو په نوم ګڼي ګمراه کونکي او پردي پالي پروژې په کار اچولي دي چي افغان ولس په تيره ځوان کهول ته يې لوی تاوانونه رسولي دي.

د تاريخ دمسخه کولو هڅي يې ګرمي ساتلي.

مخدرات، (هيروئين،تارياک،چرس او شراب) يې رايج کړي او دپير او پلور مارکيټونه يې ورته پرانستلي دي.

د ايډز مهلکه ناروغي يې دافغانستان پاکي خاوري ته وارده کړه.

د وروستيو راپورونو په اساس دا مهال افغانستان کي تقريبا ۹۰۰۰زره کسان د ايډز په ناروغی اخته دي او په زرهاوو نورو کي د ايچ آی وي وايروس ثبت شوی دی،متاسفانه چي دافغان ولس لپاره يو بد خبر دی.

د کابل دروغتيا وزارت په وينا ۸۷٤۱ تنه د ايچ آی وي په مرض ککړ کسان ورسره راجستر شوي دي، ځيني داسي کسان هم شته چي په همدې مرض اخته دي خو د شرم له وجي يې ځانونه نه دي ثبت کړي.

په افغانستان کي د امريکايې يرغل څخه مخکي ډيرو هيواودالو حتی د ايډز نوم هم اوريدلی نه ؤ، خو داسلامي امارت له سقوط څخه وروسته چي افغانستان ته پورته ذکر شوې ناخوالي او ناتراشي واردي شوې، له جملې يې يوه هم د ايډز تباه کونکې مريضي ده.په بل عبارت ايډز افغانستان ته د يرغل يوه بله کرغيره ډالی !! ده.

الله تعالی دي ټول امت په تيره افغان مظلوم ولس له ايډز او نورو مهلکو ناروغيو څخه وساتي امين.

دکتور شیرعلی ظریفی

په اسلام کې دچارواکو او ولس تر منځ اړیکې

انسان یو ټولنیز ژوی دی، چې د خپلو هم مثله وګړو سره د اړتیا له مخې ټولنیزې او مادي اړیکې لري، خپلوي او راشه درشه ورسره لري او د اړتیا وړ توکي او خدمتونه ورسره تبادله کوي، نو هېڅوک له نورو اشخاصو سره له اړیکو بې غمه نه دی، که دا اړیکې له برپا کیدو پخوا د اصولو او قوانینو پر بنسټ تنظیم نه شي او بیا د دې اصولو د اجراء لپاره یوه ډله چارواکي او اداري جوړښتونه شتون ونه لري، څو بې په خوښه او ناخوښه په خلکو پلي کړي، نو د وګړو تر منځ نه حل کیدونکي جنجالونه را منځ ته کیږي، چې د هر ډول معنوي او مادي بد مرغیو لامل ګرځي.

له همدې کبله د بشر راپاته تاریخ پر دې ګواه دی، چې په دیني او طاغوتي دواړو نظامونو کې د انسانانو د ټولنیزو کړو وړو د تنظیم احکام او قوانین موجود وو او هیڅ داسې تمدن نه دی تیر شوی چې د وګړو تر منځ دې بې منل شوي اصول او د هغو اصولو د پلي کولو لپاره دې چارواکي او اداري جوړښتونه نه وي لرلي.

الله تعالی د وګړو د لارښوونې او نیکمرغۍ د خوندي کولو لپاره په هر قوم کې استازي را استولي، چې انسانان بې په خپل منځي چلن او له خپل خالق سره په اړیکو پوهولي، په لومړي سر کې پیغمبرانو د دې اصولو د پلي کولو او اجرا دنده په غاړه درلوده او د هغوی له رحلت څخه وروسته د دوی امتیانو د دوی په لاره دا چاره تر سره کوله.

په بشري تاریخ کې تر ټولو وړ او غوره چارواکي پیغمبران وو او له دوی وروسته یې غوره پیروانو هم د ټولنې د نظم چارې پر غاړه لرلې دي.

حضرت ابراهیم، حضرت یوسف، حضرت موسی، حضرت داود، حضرت سلیمان او حضرت محمد -صلی الله علیهم وسلم- د انبیاوو له جملې څخه ستر چارواکي او د خپلو امتونو حاکمان تیر شوي دي او همدا ډول د

طاغوتي نظامونو په ببلګه کې د نمرود، فرعون، قیصر، کسری، او اوسني شرقي او غربي نظامونه یادولی شو، چې قوانین او سیاسي جوړښتونه یې لرل او لري یې.

د موضوع بیان ته اړتیا

د ۱۳۵۷ لمریز کال د ثور د اومې نېټې خونړۍ کودتا وروسته د افغانستان خلک د اسلام د مقدس دین د نبوونو په پیروی له خپل سري او ولس دښمنه کمونستي نظام سره په هیواد کې د ننه په مقابله کې پاته شول او د خپل سرو زوروا کو خلقي چارواکو عصیان یې خپله دنده ګڼله او ډیرو نورو هیوادوالو له هیواد څخه بهر د هجرت په چاپیریال کې د بې وطنۍ ژوند تیراوه، نو د چارواکو اطاعت ورسره مطرح نه وو، له دې حالت څخه په اغیز، اوس مهال له عامو او حتی له ډیرو مثقفو او څه نا څه پوهو خلکو څخه داسې تصرفات او نظرونه لیدل او اوریدل کیږي چې د اولوالامر اطاعت د دین برخه او شرعي تکلیف نه ګڼي، له دریځونو یې داسې ښکاري ته به وایې چې د دوی له نظره د چارواکو اطاعت او معصیت نه یوازې غیر دیني، بلکې سلیقوي عمل دی، شرعي حیثیت یې هیڅ په نظر کې نه نیسي.

له همدې کبله اوس مهال ډیره اړینه ده، چې د حاکمانو او رعیت تر منځ د اړیکو او متقابلو حقوقو موضوع د شرعي نصوصو او فقهي معتبرو مذاهبو په رڼا کې مطرح شي، څو د دې مهمې موضوع په هکله د لوستونکو او پوښتونکو سوالونه تر یوه بریده ځواب شي.

په دې مقاله کې به د چارواکو د اطاعت په هکله شرعي نصوص او د مذاهبو نظریات، د چارواکو تعریف، د چارواکو د مخالفت صورتونه او احکام په لنډه توګه بیان شي.

د چارواکو د اطاعت په هکله شرعي نصوص

الله تعالی فرمایي: {يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ وَأُولِي الْأَمْرِ مِنْكُمْ فَإِنْ تَنَازَعْتُمْ فِي شَيْءٍ فَرُدُّوهُ إِلَى اللَّهِ وَالرَّسُولِ إِنْ كُنْتُمْ تُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ ذَلِكَ خَيْرٌ وَأَحْسَنُ تَأْوِيلًا} [النساء: ۵۹] اې مؤمنانو! د الله اطاعت کوئ او د رسول او ستاسو د چارواکو اطاعت کوئ، که په کوم شي کې سره وران شوئ نو الله او رسول ته یې ورګرځوئ، که په الله او وروستۍ ورځ باور لرئ، دا غوره ده او ښه پایله لري.

ابو هریرة –رضي الله عنه– له رسول الله صلی الله علیه وسلم– څخه روایت کړي: (من أطاعني فقد أطاع الله ومن عصاني فقد عصى الله ومن يطع الأمير فقد أطاعني ومن يعص الأمير فقد عصاني وإنما الإمام جنة يقاتل من ورائه ويتقى به فإن أمر بتقوى الله وعدل فإن له بذلك أجرا وإن قال بغيره فإن عليه منه.([۱])

ژباړه: چا چې زما اطاعت وکړ نو د الله اطاعت يې کړی او چا چې زما نافرماني وکړه نو د الله نافرماني يې کړې او چا چې د امير اطاعت وکړ نو زما اطاعت يې کړی او چا چې د امير معصيت وکړ نو زما معصيت يې کړی، امام خو يواځې يو ډال دی چې ترشا يې جګړه کيږي او ځان ورباندې ساتل کيږي، که د الله په تقوا يې امر کاوو او عدل يې وکړ، نو په هغه اجر ورکول کيږي او که بل څه يې ويل، نو هغه په ده دي.

له ابن عمر - رضي الله عنهما - څخه روايت دی، چې رسول الله - صلى الله عليه وسلم - فرمايلي: (السمع والطاعة حق ما لم يؤمر بالمعصية فإذا أمر بمعصية فلا سمع ولا طاعة.

ژباړه: اوريدل او منل حق او لازم دي تر هغه پورې چې چا ته د ناروا امر نه وي شوی، کله چې د ناروا امر ورته وشو نو نه اوريدل شته او نه منل.

له عباده بن صامت - رضي الله عنه - څخه روايت دی: (بايعنا على السمع والطاعة في منشطنا ومكرهنا وعسرنا ويسرنا وأثرة علينا وأن لا ننازع الأمر أهله إلا أن تروا كفرا بواحا عندكم من الله فيه برهان.

ژباړه: موږ له رسول الله - صلى الله عليه وسلم - سره په اوريدلو او منلو ترون وکړ، په ليوالتيا او ناخوښۍ کې، په سختۍ او آسانۍ کې او په موږباندې د بل چا د غوره کولو په صورت کې او دا چې له چارواکو سره به په چارو کې شخړه نه کوو، خو که ښکاره کفر مو وليده، له تاسو سره د هغه په هکله له الله تعالى څخه ښکاره دليل وو (نو بيا شخړه کول په کار دي.)

امام نووي - رحمه الله - ښکاره کفر په معاصي او ګناهونو سره شرحه کړی، نو د ده په نزد عملي کفر مراد دی نه عقيدوي کفر.(۱۴)

همدار راز انس - رضي الله عنه - له رسول الله - صلى الله عليه وسلم - څخه روايت کړی، چې هغه مبارک فرمايلي: (اسمعوا وأطيعوا وإن استعمل عليكم عبد حبشي كأن رأسه زبيبة.

ژباړه: واورئ او ومنئ که څه هم په تاسو يو حبشي مربې وټاکل شي، چې سر يې د مميز په څېر (تور، يا وړوکی) وي.

له ابو ذر - رضي الله عنه - څخه روايت دی: (إن خليلي أوصاني أن أسمع وأطيع وإن كان عبدا حبشيا مجدع الأطراف.

ژباړه: بيشکه زما ګران دوست امر راته کړی چې واورم او ومنم، که څه هم (زما امير) بې لاسو او بې پښو حبشي مربی وي.

ابن عباس - رضي الله عنهما - له رسول الله - صلى الله عليه وسلم - څخه روايت کړی، چې فرمايلي يې دي: (من رأى من أميره شيئا

يكرهه فليصبر عليه فإنه من فارق الجماعة شبرا فمات إلا مات ميتة جاهلية.

ژباړه: چا چې له خپل امیر څخه ناوړه کار ولید، نو صبر دې وکړي، ځکه څوک چې له ټولې ځخه یوه لویشت هم جلا او مړ شو، نو هرو مرو د جاهلیت په مرګ مړ شوی دی.

د اولو الامر په اطاعت کې نور هم ډیر احادیث روایت شوي، چې په پورتنیو احادیثو د بیلګې په توګه بسنه کوو.

د چارواکو د اطاعت حکم

په هغو چارو کې چې معصیت نه وي، د چارواکو اطاعت، د اسلام پوهانو، واجب ګڼلی او په معصیت کې اطاعت ناروا دی، ابن عابدین په رد المحتار کې یو مطلب راوړی: «مطلب طاعة أولي الأمر واجبة ([٨]) «او له علماوو ې نقل کړي چې له معصیت نه پرته په نورو چارو کې د اولو الامر اطاعت واجب دی.

امام نووي - رحمه الله - د مسلم په شرحه کې وایي: (أجمع العلماء على وجوبها في غير معصية وعلى تحريمها في المعصية([٩])

ژباړه: په روا کې د امام د اطاعت په وجوب او په ناروا کې ې په تحریم علماوو اجماع کړې ده.

د چارواکو تعریف

لکه له پورته نصوصو چې څرګنديږي چارواکي د سیاسي واک خاوندان دي، چې په سر کې ې جمهور رییس، یا پادشاه، یا امیر المؤمنین دی، په اسلامي فقه کې دې منصب ته «امامة کبری» ویل کیږي او ورپسې د دوی مرستیالان او نور تاکل شوي اشخاص لکه وزیران، قاضیان، او ملکي او نظامي موظفین دي، چې د دولتي چارو هره برخه ورسپارل شوې وي، هغوی ټول په ورسپارل شویو برخو کې د چارواکو حیثیت لري، او اطاعت کول ې لازم دي.

امام الحصفکي په الدر المختار کې وایي: الإمامة هي صغرى وكبرى فالكبرى استحقاق تصرف عام على الأنام ... ويشترط كونه مسلماً حراً ذكراً عاقلاً بالغاً قادراً قرشياً([١٠]) امامت وړوکی او ستر دی، ستر ې په خلکو باندې د عامې واکمنۍ درلودل دي - شرط ې دا دی چې امام به مسلمان، اصیل، نارینه، عاقل، بالغ، پیاوړی او قریشي وي.([١١])

د چارواکو د ټاکلو حکم

د چارواکو ټاکل تر ټولو مهم فرض ګڼل شوي، آن تر دې چې اصحابو - رضي الله تعالى عنهم - د پیغمبر صلي الله عليه وسلم ځدفن د امام له ټاکلو وروسته کړ، لومړی مسلمانانو ابوبکر صدیق رض د خپل امیر په توګه وټاکه، بیا ې د رسول الله صلي الله عليه وسلم په دفن لاس پورې کړ.

په الدر المختار کې راغلي: (ونصبه أهم الواجبات فلذا قدموه على دفن صاحب المعجزات)

([۱۲۲])او د امام تاکل تر ټولو واجباتو مهم واجب دی، له همدې کبله د امام تاکل صحابه وو د معجزاتو د خاوند له دفن څخه مخکې کړل.

د چارواکو تاکل، څارنه، او ګوښه کول

په اسلام کې له حکومت او واکمنۍ څخه موخه د ټولنیزو فرایضو په ځای کول دي، ځینې خلک د دې لپاره په نورو واکمن کیږي څو امنیت خوندي شي، عدالت تامین شي، علم عام او د جهل تیاره ورکه شي، د ټولنې ارتیاوې د صحت، لارو، ودانیو او صنعت په هکله پوره شي، لنډه دا چې په هیواد کې د وزارتونو او ریاستونو او آن د هر دولتي پوست په اندازه ټولنیز فرایض شته چې باید هغه تر سره شي.

دا ټولنیز فرایض د قرآنې نصوصو او نبوي احادیثو له مخې د ټول امت دنده ده، تر سره کول یې ځانګړي خیل یا ټبر ته او یا ځانګړي قشر او طبقې ته نه دي سپارل شوي، په قرآن کې خطاب په « یا أیها اللذین آمنوا) سره راغلی او د اوامرو صیغې هم عامې وي، نو ټول خلک د دین په تطبیق او اقامه مکلف دي.

د دې لپاره چې دا ټولنیز (کفایي) فرایض په سمه توګه تر سره شي، د رسول الله صلي الله علیه وسلم او صحابه کرامو -رضي الله تعالی عنهم- په پیروی خلک راپاځیږي او د اجراآتو صلاحیت یوه شخص ته د مشر او امام په توګه سپاري، بیعت ورسره کوي، په ده د الله تعالی د اطاعت او په ځانونو د ده د اطاعت شرطونه بږدي او په ګډه سره ټولنیز فرایض په ځای کوي.

امام په ورسپارل شویو صلاحیتونو او کارونو کې د خلکو نایب او قایم مقام دی، الله تعالی نه دی تاکلی، ځکه یواځې پیغمبران مصطفین اخیار او د الله له خوا تاکل شوي بندګان دي، امامان د خلکو له خوا تاکل کیږي او د بیعت همدا معنا ده، نو نایب باید په خپلو چارو کې د اصل خوښې او رضا ته پاملرنه وکړي، وکیل هیڅ وخت نشي کولی د موکل له فرمایشونو سرغړونه وکړي، همداسې امام په خپلو ټولو چارو کې د رعیت تر څارنې لاندې دی او د شورا لازمي کول همدا معنا لري، الله تعالی فرمایي{ ،وَشَاوِرْهُمْ فِي الْأَمْرِ} [آل عمران: ۱۵۹] ژباړه: په چارو کې مشوره ورسره کوه.

څرنګه چې په کفایي فرایضو سره امت اصلي مکلف او امام یې نایب او وکیل دی، نو د امام عزلول هم د امت حق دی، ځکه وکیل او نایب بادار نه، بلکې خدمتګار وي او که د بیعت په بندونو یې عمل ونکړ، امت وغوښتل چې عزل یې کړي، نو دا د دوی صلاحیت دی.

په اسلام کې له امارت څخه د پورته بیان په خلاف سوء استفاده کول، په خلکو باندې بادار جوړیدل، واکمني میراثي ګرځول، یا په واکمنۍ خپله اچول، په یوه تبر کې پې یو بل ته سپارل، دا ټول اسلامي غوره صورتونه نه دي، بلکې دا له قیصر او کسرا څخه راپاتې لارې دي، په اسلام کې د ضرورت پر بنسټ تحمیل کیږي، خو اسلام د مروجو پادشاهیو د نرولو لپاره راغلی وو، نه د هغو د ترویج او استحکام لپاره.

پورته موضوع به د مقالې په راتلونکو مطالبو کې ښه ښکاره شي.

د چارواکو د اطاعت سیمه

اطاعت په روا چارو کې لازم دی، په ناروا کې اطاعت جواز نلري.

له علي - رضي الله عنه - څخه روایت دی چې رسول الله - صلی الله علیه وسلم - د مجاهدینو یوه ډله ولیږله او د انصارو څخه پې یو سړی امیر ورته وټاکه، امر پې ورته وکړ چې خبره پې واوري او یې منې، افرادو خپل امیر په یو څه کې په غصه کړ، نو وې ویل: ماته خس راټول کړئ! افرادو خس راټول کړل، بیا پې وویل: اور راته بل کړئ! نو اور پې ورته بل کړ، بیا پې وویل: آیا تاسو ته رسول الله - صلی الله علیه وسلم - امر نه دی کړی، چې زما خبره به اورئ او اطاعت به مې کوئ؟ دوی وویل: هو کړی پې دی، نو یې ورته وویل: اور ته ځانونه واچوئ.

دوی یو بل ته سره وکتل او وې ویل: موږ خو رسول الله - صلی الله علیه وسلم - ته یوازې له اور څخه ورتښتیدلي وو، دوی په همدې حالت کې وو، چې د امیر غضب سوړ شو او اور مړ شو، کله چې راوګرځیدل، رسول الله - صلی الله علیه وسلم - ته پې پیښه یاده کړه، هغه وویل: که مو اور ته ځانونه اچولي وای، نو ورځخه وتلي به نه وای، اطاعت یوازې په سمو (منل شویو او روا) چارو کې دی.

روا چارې چې اطاعت پکې فرض دی، په دوو برخو ویشل کیږي:

لومړی - هغه چارې چې د شریعت غوښتنه وي، لکه فرض، واجب، او مندوب په مأمورا تو کې او حرام او مکروه په منهیاتو کې، کله چې امام هم غوښتنه وکړي، نو د امام په امر سره د شریعت غوښتنه مؤکده کیږي، او منل پې نور هم لازمیږي.

ځکه کیدای شي یوازې له شرعي زاویې څخه د غوښتنې منل اجتهادي او اختلافي وي، ځینو فقهاوو لازمه او ځینو نورو غیر لازمه ګڼلي وي، چې مکلف ته په دې صورت کې دوه خیارونه (عمل او ترک) ثابتیږي، خو کله چې په همدې صورت کې د اولو الامر حکم رامنځ ته شي، هماغه یو خیار - چې د اولو الامر اطاعت دی - لازم ګرځي، ځکه په

اجتهادي امورو کې د اولو الامر اطاعت اختلاف له منځه وړي.

د چارواکو اطاعت د ژوند په ټولو برخو کې لازم دی، په معاملاتو، جناياتو او اداري چارو کې خو قوانين صادر شوي، آن په عباداتو کې هم په اجتهادي مسائلو کې د چارواکو اطاعت لازم دی، په اخترونو کې په هر رکعت کې له ابن مسعود - رضی الله عنه - څخه درې درې او له ابن عباس - رضی الله عنه - څخه پنځه پنځه زيات تکبيرونه روايت شوي، د حنفي مذهب امامانو (امام ابو حنيفه، امام ابو يوسف او امام محمد - رحمهم الله -) د ابن مسعود په روايت تکيه کړې، خو له صاحبينو څخه په پنځه پنځه تکبيرونو هم عمل کول روايت شوي.

علامه ابن عابدين شامي رح د دې روايت په تعليل کې وايي: (تجب طاعة الإمام فيما ليس بمعصية قال في الظهيرية: وهو تأويل ما روي عن أبي يوسف ومحمد فإنهما فعلا ذلك لأن هارون أمرهما أن يكبرا بتكبير جده، ففعلا ذلك امتثالا له لا مذهباً واعتقاداً د امام اطاعت په هغه څه کې چې معصيت نه وي واجب دی، په ظهيريه فتاوا کې يې ويلي: دا د امام ابو يوسف رح او امام محمد رح څخه د روايت شوي عمل تاويل دی، دوی (پنځه پنځه زوائد تکبيرونه) اجرا کړي، ځکه هارون الرشيد دوی ته امر کړی وو چې د ده د نيکه په توګه تکبيرونه دې ووايي، نو دوی د هغه د امر د منلو لپاره دا کار ترسره کړ، نه دا چې د دوی دا مذهب او باور و.

علامه ابن عابدين رح په بل ځای کې وايي: (إذا أمر الإمام بالصيام في غير الأيام المنهية وجب لما قدمناه في باب العيد من أن طاعة الإمام فيما ليس بمعصية واجبة. کله چې امام په غير منهي (هغه چې روژه پکې منعه نه ده) ورځو کې د روژې امر وکړي، روژه واجبيږي، لکه چې مخکې مو د اختر په باب کې بيان کړل: په هغو چارو کې چې معصيت نه وي د امام اطاعت واجب دی.

دويم - هغه چارې چې شريعت مباح ګڼلې وي، لکه مختلف ډول خوراکونه، پوښاکونه او مباح معاملات، په دې هکله د اولو الامر په حکم سره په مباحو کې قيد رامنځ ته کيږي، که اولو الامر امر پرې وکړي نو مباحات واجب ګرځي او که نهي ورځخه وکړي، نو بيا حرام ګرځي، په مباحو کې د چارواکو امر او نهي ته د حرامو تحليل يا د حلالو تحريم نه ويل کيږي، بلکې دې ته د مباحو تقييد وايي، له شرعي احکامو سره ېې تو پير په دې کې دی چې شرعي احکام مؤبد وي او د اولو الامر د امر او نهي په واسطه د مباحو تقييد مؤقت وي، اولو الامر کولی شي، بيرته خپله غوښتنه باطله کړي او يا له ده وروسته بل چارواکی هغې ته د پای ټکی کيږدي.

د مباحو د تقييد بيلګه د امير المؤمنين عمر بن الخطاب - رضي الله تعالى عنه - عمل دی چې په اونۍ کې يې دوې ورځې د غوښو په پلورلو بنديز لګولی و، ترڅو په نورو ورځو کې غوښې ډيرې او ارزانه شي. او همدا راز يې يو وخت، د مجاهدينو لپاره د اهل کتابو ښځو نکاح منعه کړې وه، ترڅو مسلمانې ښځې يې ميړه پاته نه شي.

د امير د دواړه ډوله اطاعت په هکله ابن نجيم - رحمه الله - وايي) :(لِأَنَّ طَاعَةَ الْإِمَامِ فِيمَا لَيْسَ بِمَعْصِيَةٍ فَرْضٌ فَكَيْفَ فِيمَا هُوَ طَاعَةٌ). ځکه د امام اطاعت په هغو چارو کې چې معصيت نه وي، فرض دی، نو په هغو چارو کې چې د شريعت له مخې اطاعت ګڼل شوې وي، په اولی توګه د امام اطاعت فرض دی.

ژباړه: ځکه د امام اطاعت په هغو چارو کې چې معصيت نه وي، فرض دی، نو په هغو چارو کې چې د شريعت له مخې اطاعت ګڼل شوی وي، په اولی توګه د امام اطاعت فرض دی.

علامه کاساني وايي: (وإذا أمر عليهم يكلفهم طاعة الأمير فيما يأمرهم به وينهاهم عنه، لقول الله تبارك وتعالى {يا أيها الذين آمنوا أطيعوا الله وأطيعوا الرسول وأولي الأمر منكم} وقال عليه الصلاة والسلام: اسمعوا وأطيعوا ولو أمر عليكم عبد حبشي أجدع ما حكم فيكم بكتاب الله تعالى، ولأنه نائب الإمام، وطاعة الإمام لازمة كذا طاعته، لأنها طاعة الإمام إلا أن يأمرهم بمعصية فلا تجوز طاعتهم إياه فيها، لقوله عليه الصلاة والسلام: لا طاعة لمخلوق في معصية الخالق، ولو أمرهم بشيء لا يدرون أينتفعون به أم لا، فينبغي لهم أن يطيعوه فيه إذا لم يعلموا كونه معصية، لأن اتباع الإمام في محل الاجتهاد واجب كاتباع القضاة في مواضع الاجتهاد.

ژباړه: او کله چې امام په يوه ډله امير وټاکي په امر او نهي کې دې دوی د هغه په اطاعت مکلف کړي، ځکه الله تعالى فرمايلي: {اې مؤمنانو اد الله، رسول او هغو کسانو اطاعت وکړئ چې له تاسې نه د امر خاوندان وي} او رسول الله - صلى الله عليه وسلم - فرمايلي: واورئ او ومنئ که څه هم په تاسو يو حبشي غلام امير وټاکل شي، چې لاس او پښې يې پرې وي، ترڅو چې په تاسو کې د الله په کتاب حکم چلوي او بل دا چې د امام له لورې ټاکل شوی شخص (په ورسپارل شوې دنده کې) د امام مرستيال دی او د امام اطاعت لازم دی، په همدې توګه يې د نائب اطاعت، ځکه دا د امام اطاعت دی، خو که په معصيت يې امر وکړ، بيا يې په همدې معصيت کې اطاعت جائز نه دی، ځکه رسول الله - صلى الله عليه وسلم - فرمايلي: د خالق په معصيت کې د

مخلوق اطاعت نشته او که په داسې یو کار امر ورته وکړي چې دوی نه پوهیږي چې ګټه ورته لري که نه، نو مناسب دا ده چې په هغه کې بې اطاعت وکړي، تر څو چې په معصیت باندې بې پوه نه وي، ځکه د امام اطاعت د اجتهاد په ځای کې واجب دی، لکه په اجتهادي محل کې چې د قاضیانو اتباع واجبه ده.

چارواکي په خپلو دندو کې د ملت په استازیتوب د هغوی د ګټو د خوندي کولو مکلفیت پر غاړه لري او مکلف دی چې له ملت سره په مشورو خپلې دندې تر سره کړي، نو که په خپلو تصرفاتو کې د ملت ګټې پریږدي، خپلې ګټې په نظر کې ونیسي او یا هم له خلکو سره مشوري ونکړي او استبداد ته مخه کړي، په دې صورتونو کې که د دوی کړنې په ښکاره د شریعت له اصولو سره په ټکر کې وي، نو اطاعت بې لازم نه دی او که د دوی کړنې په اجتهادي ډګر کې وي، شرعي توجیه ولري، نو بیا بې اطاعت لازم دی.

قوانین د چارواکو امر ګنل کیږي

په اسلامي هیواد کې چې قانوني نظام بې د شریعت احکامو ته پابند وي، د قوانینو هغه برخې چې په شریعت کې معتبره توجیه ولري، له قرآن، سنتو، اجماع او یا قیاس څخه دلیل دلالت پرې وکړي او له معتبرو علماوو څخه د یو چا نظر وي، داسې قوانین ټول د چارواکو امر ګنل کیږي، اطاعت بې واجب دی.

خو که د قوانینو ځینې برخې د شریعت له متفق علیه احکامو سره مخالفې وي، د امت د مجتهدینو د آراوو په خلاف وي، د داسې قوانینو پیروي لازمه نه ده.

که په قوانینو کې ځینې مواد د ځینو وګړو له نظر سره سم نه وي او یا د ځینو د متبوع امام د نظر په خلاف وي، خو دا مواد د اهل سنت له ځینو نورو مذاهبو سره سمون ولري، په هیواد کې پر میشتو ټولو وګړو بې منل لازم دي. ځکه په اختلافي مواردو کې د امام تایید او امر، اختلاف په مقیده توګه له منځه وړي، خو که په قوانینو کې بل ډول مشروع بدلون راغی بیا د هغه منل لازم وي .او همدا د بدلون امکان د الله تعالی د احکامو او د چارواکو د اوامرو تر منځ د توپیر سترې نښه ده، د الله تعالی اوامر د رسول الله له رحلت څخه وروسته، د الله تعالی په نورو اوامرو نه بدلیږي، ځکه وحي نوره نشته، نو په شرعي احکامو کې نسخه نه راځي، خو د چارواکو اوامر د هغوی د دریځونو په بدلون بدلیږي.

نوربیا.....

افغانستان

دنړۍ دویم فاسد هېواد!

د رونټیا نړیوال سازمان د نړۍ د فاسدو هېوادونو په تړاو د ۲۰۱۵ کال کلنۍ راپور خپور کړ او د دغه وروستي راپور له مخې شمالي کوریا، سومالیا او افغانستان د نړۍ د ۱۶۷ هېوادونو په منځ کې، د تر ټولو فاسدو هېوادونو په توګه وپېژندل شول. د دغه راپور له مخې، افغانستان د نړۍ دویم فاسد هېواد شو . د رونټیا نړیوال سازمان لومړنی سازمان نه دی، چې د افغانستان د اداري فساد په اړه سروې‌ګانې خپروي، بلکې له دې وړاندې هم د افغانستان رونټیا څار، ایشیا فاونډېشن او د ملګرو ملتونو د مخدره توکو او جرایمو ضد ادارو په دې اړه راپورونه خپاره کړي دي.

دا چې په افغانستان کې د اداري فساد په تړاو نورې سروې‌ګانې څه وایي؟ ولې په افغانستان کې اداري فساد ورځ تر بلې زیاتېږي؟ او په تېر یوه کال کې د ملي وحدت حکومت د اداري فساد په برخه کې څه کړي؟ دلته پرې شننه شوې ده.

په افغانستان کې اداري فساد ته لنډه کتنه

د افغانستان د اداري فساد په تړاو دواړو داخلي او بهرنیو ادارو خپل رپوټونه خپاره کړي دي. د افغانستان رونټیا څار اداره داخلي اداره ده او ایشیا فاونډیشن او د رونټیا نړیوال سازمان او د ملګرو ملتونو د مخدره توکو او جرایمو ضد اداري بیا بهرنۍ اداري دي، چې په دې اړه یې رپوټونه او سروې‌ګانې خپرې کړې دي. دا ټولې اداري په هېواد کې د اداري فساد پر پراخ شتون خپلې څېړنې لري. دلته موږ د ایشیا فاونډېشن، د افغانستان د رونټیا څار او د رونټیا نړیوال سازمان د ادارو، څېړنې او سروې‌ګانې رااخلو.

د ایشیا فاونډیشن د کلنیو سروې‌ګانو له مخې، له ۲۰۰۶ کال څخه تر ۲۰۱۴ کال پورې د خلکو په ورځني ژوند کې، اداري فساد د یوې مهمې ستونزې په توګه مطرح شو. په ۲۰۰۶ کال کې د ۴۲ سلنه خلکو په ګمان اداري فساد لویه ستونزه وه؛ خو په ۲۰۱۴ کال کې د ۶۲ سلنه خلکو په اند، د اداري فساد ستونزه نوره هم زیاته شوه او اداري فساد د دوی د ورځني ژوند لویه ستونزه وه.

همدا راز له ۲۰۰۶ کال څخه تر ۲۰۱۴ کال پورې د ایشیا فاونډیشن پوښتنلیک د اداري فساد په اړه نورې برخې هم درلودې؛ لکه ستاسو په ګاونډ، په سیمه‌ییزو چارواکو، په ولایتي حکومت او په ټول افغانستان کې د اداري فساد ستونزې ته په کومه سترګه ګورئ؟ که د دغو پوښتنلیکونو ځوابونو ته ځیر شو؛ نو د خلکو په ګمان د اداري فساد ستونزه پراخېږي او په ۲۰۱۴ کال کې یې سلنه، د نورو کلونو په پرتله تر ټولو زیاته ده. په بل اړخ کې د افغانستان د رونټیا ټار اداري هم له ۲۰۰۷ کال راهیسې د افغانستان د اداري فساد پرضد ټلور سروې‌ګانې خپرې کړې دي. د دغو سروې‌ګانو له مخې، په هېواد کې اداري فساد هر کال زیات شوی دی. په ۲۰۰۷ کال کې د هېواد د وګړو ترمنځ تقریباً ۳۷۷ ملیون ډالره رشوت ورکړل شو او په ۲۰۱۰، ۲۰۱۲ او ۲۰۱۴ کلونو کې بیا په ترتیب سره تر ۱۰۰۰، ۱۲۵۰ او ۱۹۳۲ ملیون ډالرو پورې رشوت ورکړل شو. (وګورئ، توضیحي رسم-۱(توضیحي رسم-۱: په افغانستان کې اداري فساد

ماخذ: د افغانستان د رونټیا ټار اداري د ۲۰۰۷ کال، ۲۰۱۰ کال، ۲۰۱۲ کال او ۲۰۱۴ کال سروې‌ګانې

د اداري فساد په اړه د رونټیا نړیوال سازمان سروې‌ګانې

د شفافیت نړیواله اداره یوه نړیواله مدني ټولنه ده، چې بنسټیزه موخه یې د اداري فساد مخنیوی دی. دغه اداره هر کال د نړۍ له ۱۰۰ ځښه په ډېرو هېوادونو کې د اداري فساد په اړه سروې‌ګانې کوي او په دې لړ کې ټولو هېوادونو ته نومرې ورکوي، بیا د دغو هېوادونو د درجه بندۍ یو لېست جوړوي او په خپل کلني راپور کې یې خپروي.

که چیرې مونږ له ۲۰۰۵ کال راهیسې د دغې اداري کلنیو راپورونو ته وګورو؛ نو جوته به شي، چې افغانستان کال په کال د اداري فساد پر ضد مبارزه کې ډېرې کمې نومرې اخلي او په لیکلړ کې یو له وروستنیو هېوادونو څخه راځي. په ۲۰۰۵ کال کې افغانستان په اداري فساد کې د اوس پر پرتله په ښه موقعیت کې و. دغه کال د افغانستان ټولې نومرې ۲.۵ وې او د نړۍ له ۱۵۹ هېوادونو څخه ۱۱۷ نمبر راغلی و. خو په راتلونکو کلونو کې د افغانستان نومرې د کمېدو په لور ولاړې او له همدې کبله په نړۍ کې د تر ټولو فاسدو هېوادونو له جملې څخه یو شو. په اداري فساد کې د افغانستان نومرې له ۲۰۰۷ کال څخه تر ۲۰۰۹ کال پورې د کمېدو په لور ولاړې (په ۲۰۰۷ کال کې د افغانستان نومرې ۱.۸، په ۲۰۰۸ کال کې ۱.۵، په ۲۰۰۹ کال کې ۱.۳ وې)؛ خو له ۲۰۱۰ کال څخه تر ۲۰۱۱ کال پورې بیا په تدریجي ډول د اداري فساد پر ضد مبارزه کې د افغانستان نومرې بېرته په لوړېدو شوې. لامل یې دا کېدای شي، چې په ۲۰۰۸ کال کې په افغانستان کې له اداري فساد سره د مبارزې د ستراتیژۍ د تطبیق قانون جوړ شو او د همدغه قانون له مخې په هېواد کې د څارنې عالي اداره هم جوړه شوه (په ۲۰۱۰ کال کې یې نومرې ۱.۴ او په ۲۰۱۱ کال کې بیا ۱.۵ شوې).

د دغو راپورونو له مخې، له ۲۰۱۲ کال څخه تر ۲۰۱۳ کال پورې، افغانستان یو ځل بیا په اداري فساد کې ډېرې کمې نومرې واخیستې او په اداري فساد کې د وروستیو هېوادونو له جملې څخه شو (په ۲۰۱۲ کال کې ۰.۸ او په ۲۰۱۳ کال کې یې د اداري فساد پرضد مبارزه کې ۰.۸ نومرې واخیستې) خو کله چې اشرف غني واک ته ورسېد، نو د هغه د ځینو دریځونو له کبله، د بیلګې په ډول د کابل‌بانک د قضیې بیا پرانېستل، د ملي تدارکاتو کمیسیون جوړول او په اداري فساد تورن کسان ممنوع الخروج اعلانول او څارنوالۍ ته د دوی د معرفي کولو له کبله، په ۲۰۱۴ کال کې د اداري فساد پرضد مبارزه کې د افغانستان نومرې بیا ښې شوې او له ۰.۸ څخه ۱.۲ ته پورته شوې.

په ۲۰۱۵ کال کې د اداري فساد پرضد د حکومت کړنلاره تر ډېره همغږې نه وه او له همدې کبله یې له لسو څخه ۱.۱ نومرې

ترلاسه کړې او په نړۍ کې دویم فاسد هېواد شو. (وګورئ، جدول-۱(جدول-۱: په نړیواله کچه په اداري فساد کې د افغانستان وضعیت (۲۰۰۵-۲۰۱۵)کال له لسو څخه د افغانستان نومرې په نړۍ کې یې وضعیت.

ماخذ: له ۲۰۰۵ کال څخه تر ۲۰۱۴ کال پورې د روڼتیا نړیوال سازمان (Transparency International)راپورونه

په بل اړخ کې بیا خلکو هم له فساد سره په مبارزه کې او د فاسدو خلکو په افشا کولو کې منفي رول لوبولی او د رشوت له ورکولو څخه یې کمه ډډه کړې ده.

د اداري فساد پر ضد دکابل د حکومت ناهمغږې کړنلاره.

د کابل‌بانک د قضیې، چې دافغانستان د بانکي تاریخ تر ټولو ستره قضیه ده، لوی مجرم خلیل الله فېروزي ونیول شو او پر بند محکوم شو؛ خو وروسته بیا د اشرف غني د حقوقي سلاکار محمد علي محمدي له‌خوا پرېښودل شو او ښارجوړونې وزارت، د یوه ښارګوټي قرارداد ورسره لاسلیک کړ. د سمارت په نوم د دغه ښارګوټي د قرارداد د لاسلیک کولو پرمهال یو شمېر جګپوړي دولتي چارواکي لکه په سیاسي اصلاحاتو کې دکابل دولسمشر. ځانګړی استازی احمد ضیاء مسعود او د ښارجوړونې وزیر هم موجود وو. دغه حالت په خلکو کې د اداري فساد پرضد د کابل دحکومت کړنلاره خورا ضعیفه وښودله اوافغانان فکر کوي، چې اصلاً داداري فساد یا رشوت او بډو دترویج عاملین همدا فاسد حکومت دی ،چې نه اصلاحات راوستلای شي او نه اداري فساد ته خاتمه ورکولای شي ،افغان ولس پدې پوهیږي، چې داداري فساد دبنسټ ډبره ړومبی اشغالګرو خارجیانوهیواد کې ایښي او اوس یې پر ګوتو جوړ شوی حکومت په پل ږدي ،دمشره ترکشره ټول په بډو او رشوت روږدي شوي ،څوپورې چې دوئ واک کې وي ، دخیر تمه تري نشي. کیدای او نه پرې ولس نور باور کوي !

زخمی افغان

طالبانو

له طلوع سره مخ آزاد وکړ

د طلوع ددفتر له منځه یوه خبردار او ددې شبکې د مشر سعد محسني نږدې کس په فیسبوک باندې دا خبره افشاء کړې چې یو وخت د طلوع ځینو کارمندانو د شبکې مشر سعد محسني ته ویلي و چې په تیلویزیون کې شپه ورځ سندرې، مسخرې، فحاشي او هر فسق او فساد نشریږي، نو که دیر تکلیف نه وي لطفا د آذان لپاره هم یو څه وخت ورکړئ چې کله ناکله آذان هم تري نشر شي تر څو خو لږتر لږه افغانان په دې پوه شي چې د طلوع کارکوونکي مسلمانان دي او کلمه وایي

وا یي سعد محسني ځواب ورکړی و چې زه خو چې سندرې او فحاشي یا تجارتي اعلانات نشروم نو د هرې دقیقې او ثانیې یې قیمت معلوم دی اوله بیلابیلو سفارتونو استخباراتي شبکو او تولنو وریاندې نغدې پیسې اخلم، آذان چې یو اعلان دی که د حج او اوقافو وزارت یې ماته په مقابل کې د نورو اعلاناتو غوندې پیسې راکړي نو نشر به یې کړم او کنه نو هیڅکله به زماله چینله خپور نشي.

خو له تیرې چهارشنبې را هیسې چې طالبانو په طلوع بریدونه کړی، دې شبکې ته نه یوازې مرګ ورپه زړه شوی اود دعاګانو تلاوتونو او وعظونو خپرونې یې پیل کړي بلکې په آذانونو یې هم پیل کړی دی.

د دیرو په ګمان خو که د طالبانو بریدونه هیڅ نتیجه ونلري دا ثواب یې هم بس دی چې دفساد او فسق خپرونکي شبکه یې څو ورځې په تلاوت او آذان راوسته، د ستاره افغان غوندې د بیلابیلو مسابقاتو خپرونو او فحاشو سریالونو مخه یې ډب کړه، او د فساد د ذریعې په بندولو او تعطیلولو سره یې په میلیونونو خوانان په ګناه کې له ډوبیدلو او بیهوده وخت اړولو څخه وژغورل.

وایي چې دب نه وي اډب نه وي. طلوع هم په تیرو څوارلسو کلونو کې داسې سرایله شوی و چې په هیڅا یې سترګه نه ډکیده، څو میاشتې وراندې چې طالبانو طلوع ته د تأدیب خبره وکړه، نو ددې شبکې مشر سعد محسني چې په دوبي کې ناست دی او د افغانستان له آب وهوا دیر خبر نه دی، په خپل تویتر یې په دیر غرور سره ولیکل چې نوموری د طالبانو په دښمنۍ ویاړي او هیڅکله به یې خبرې ته غوږ ونه نیسي.

مګر له تیرې چهارشنبې را هیسې چې طلوع خپل شوی د سعد محسني تویتر هم د طلوع، ستاره افغان، ارمان ایف ایم، اراکوزیا او

لمر د پانو غوندې د غم په تغر ناستي او د ویر تورې جامې یې په تن کړې دي.

د ویر ماتم، ژړا او زاریو په تویتونو سربیره سعد محسني طلوع ته هم قومنده ورکړې چې په فوق العاده او مفت ډول دي اذانونه هم شروع کړي.

دا چې طلوع اذان خپروي یو مثبت کار دی خدای دي وکړي چې خپلې مسلمانې ته دوام ورکړي او له فساد سره مخه نښه وکړي په ضمن کې وایو چې د فسادګرو په سر کله ناکله داسې بریدونو هم ټولنې ته او هم شخصا فسادګرو ته ډیرې فایدې لري، ځکه که خودسره پرېښودل شي نو نور هم په فساد کې ډوبیږي، او هوښیاران وایي چې که په مارځوکالې د انسان ګوزار ونه شي نوبالاخره ښامار ترې جوړیږي.

دپند خبرې

م/محمد

مرګ او ژوند دالله تعالی په لاس کې دي، دمرګ له ویرې له جهاد نه تېښته یوسترحماقت دی.

دالله تعالی په لاره کې جهادکول اومال خرڅول داسلام اومسلمانانو دعزت ، ځان اومال دبقا لپاره بنیادي حیثیت لري.

جهاد في سبیل الله له ظالمانو نه دخلاصون فطري لاره ده، دعزت اووقار ترلاسه کولو لپاره په مادیاتو باور درلودل دمؤمنانو لاره نه ده جهاد چې دیوه امیر په اطاعت کې وي، نو منظم وي او دکامیابي منزل ته به رسیږي.

دامیر په انتخاب کې دکورنۍ، مال اودولت، قوم او تبر لحاظ باید ونه شي، بلکې تقوی او اهلیت یې په نظرکې ونیول شي.

دجهاد لپاره عملی قوت یعني دحربي زده کړو اوجسماني صلاحیت په ترلاسه کولو کې باید ډیرکوشش وکړلی شي.

په مادي اسبابو باندي د تکیه پر ځای همیشه په الله تعالی باور اواعتماد اوله همه څخه دفتح اونصرت طلب غوښتونکي شئ.

نفسي خواهشات دقتال في سبیل الله لپاره ترټولو ستر خنډونه دي فتح د شمېر په زیاتیدو او کمیدو سره نه بلکه دالله تعالی په نصرت سره راځي

د الله تعالی حضورته وراندي کیدل (لقاء الهي) مجاهد ته عزم اوهمت ور بخښي

دکمزوري زړه خاوندان دجګړې میدان ته له تللو وراندي باید جلاکړل شي ،هسي نه چې، دجګړې په مهال دتېښتي له امله یې دنورو مجاهدینو په مورال اثر پرې نه وځي.

ددښمن دمادي طاقت او عسکري مشقونوپه لیدلوسره مه مرعوب کیږه ، بلکې تل دالله تعالی دقدرت استحضار کوه

په دښمن باندي دژړ برلاسي لپاره باید دهغوی مشران په نښه کړی شي.

دجهاد مشروعیت یو الهي فضل دی، جهاد ته مصیبت یا فساد ویل دبدبختي لویه نښه ده.

د خالد بن وليد (رضي اللّٰه تعالى عنه)

له معسکر څخه تفصيلي راپور تاژ

ترتیب: [illegible]

پوښتنه: مجاهدين خو الحمدلله د جهاد د جريان او دوام لپاره ډيره ښه انګيزه لري، همدا راز د الله تعالى په نصرت په ټينګ باور او عقيده سره ښه عالي روحيه لري، آيا فکر کوي چې په نظامي رژونه او تعليم سره به دهغو په روحيه کې لا اضافه وشي؟

ځواب: بالکل! زه په باور سره ويلای شم چې زموږ معسکراتو دخپل خدمت په جريان کې يو تر ټولو لوی کار دا کړي چې مجاهدينو ته يې ډيره ښه روحيه ورکړي، او همدارنګه يې په انګيزه کې قوت زيات کړی، ورسره د نظري پلوه هم ښه پوه کړل شي چې امريکايي اشغال او دهغو د غلامانو په قدرت کې پاتې کيدل هيواد په کومه خوا بيايي، زموږ عقيدې او دين ته څومره زيان لري، زموږ عزت او مشروع افغاني دودونوته څومره مضر دي، نو مجاهد شعوري شو او انګيزه يې ډيره پياوړې شوه، همدا راز د نظامي تعليم په زدکړه سره په خپله وسله اعتمادي شو، په خپله وړتيا يې اعتماد ډيرشو چې په دې سره دروحيې له پلوه مجاهد ډير قوي کيږي او د کندز او هلمند په وروستيو جنګونو کې به ان شاءالله ټولوته معلومه شوي وي چې ډير کم شمير مجاهدينو دمحاصرې او تکليف سره سره هم له دښمن څخه ولايتونه ونيول، نو زما په ګومان په دې کارونو کې د مجاهدينو روزنه ډير رول لري او ان شاءالله اميدواريم چې زموږ مشران به دې ټکي ته لا ډير متوجه شي.

پوښتنه: په ډيرو ځايونو کې داسې هم ليدل شوي دي چې دښمن کله کله هڅه کوي چې د مجاهدينو مهمات او مرمي ورځخه مصرف کړي، مثلا يو ځای ددې لپاره برید کوي چې مجاهدين پرې ډيرې ډزې وکړي، خو کله چې مجاهدين ډير مهمات استعمال کړي، نو دښمن بيا بل ځای په بل ډول دمجاهدينو په وړاندې برید کوي آيا تاسو د تعليم په جريان کې داسې شيانوته هم مجاهدين متوجه کړئ؟ بله مهمه خبره داچې تاسو دخپلو مجاهدينو دروزنې په لړ کې کله کله د دښمن له ليکو څخه هم دهغو د تکتيکونو په اړه استخباراتي معلومات ددې لپاره راټولوئ چې مجاهدين يې په مقابل کې هماغه ډول وروزئ او ورته متوجه يې کړئ؟

ځواب: هو موږ مخکې یادونه وکړه چې زمـوږ د رژونې یوه ډیر مهمه برخه استخباراتي تعلیمات دي، په هغو کې استاذان مجاهدینوتـه د دښـمن د ټولوتکتیکونو په اړه معلومات ورکوي او دوی یې په مقابل کې په غبرګون یوه کوي، تاسو پـوهیږئ چې موږ لـه امریکایـانو سره ځـوارلس کالـه کیـږي پـه جګړه اخته یو، د دښمن هرډول تکتیک مـو کشـف کړی او په وړاندې مو یې لازم اقـدامات کـړي، نـو ددغو ګنو تجربو او تازه پیښو، یـا ددښـمن دلیکـو څخه د استخباراتي معلوماتو د راټولو په مټ زمـوږ استاذان مجاهدین په هغه ډول روزي چې جهـادي بهیر یې ایجابوي، په دې برخه کې موږ نور هم ښـه جدي او مثمر پروګرامونه تر نظر لانـدې لـرو، بلـه خبره داچې موږ مخکې پوښتنه کې هم وویل چې د تعلیم څخه د فارغو شوو مجاهدینو په وجه په ټولو نظامي جبهاتو کـې زمـوږ مصـارف کـم شـوي دي، ځکه مجاهدین یې ددښمن له لیـدو او نښـه کیـدو څخه ډډې نه کوي، او ما یو مثال درکړ چې موږ یوه جګړه صرف ۴۲د مرمیو په ویشتولو باندې پـای تـه ورسوله او خپل هدف مو ترلاسه کړ، چې کـه روزل شوي نه وای نو کیداشي موږ سلګونه مرمۍ ویشتې وای.

پوښتنه: تاسو وویل چې موږ دلته مجاهـدین په اخلاقي لحاظ روزو او د جهاد په دینـي احکـامو یې خبروو، نو ددې معلوماتو په لړ کې داشیان هـم شته او کنه چې مجاهدین باید د جهاد پـه جریـان کې دملکي خلکو ژونـد تـه ډیـر متوجـه وي، دعـام ولس دمال زیان ته ډیر متوجه وي، دخلکو سره ښه چلند ته توجه وکړي، څـوک بـې موجبـه زهیـر نـه کړي، څوک خوابدی نه کـړي، څـوک ونـه ویـروي، ظلم او تیری تړې ونه شي، دخلکو موټر، کور، بـاغ، څمکې، کښت، دوکان یا بل شي ته زیـان تـړې ونـه رسیږي، دغو شیانوته مجاهدین متوجه کوئ ؟

ځواب: هو الحمدلله! حتما مـا مخکې ووېـل چې زمـوږ د تعلیم یوه برخه سیرت النبـي صـلی الله علیه وسلم ده، په هغه کـې د نبـي کـریم صـلی الله علیه وسلم او دصحابه کرامو چلند لـه عـامو خلکـو سره راغلی، مثلا دجهاد په وخـت کـې نبـي کـریم صلی الله علیـه وسـلم د خلکـو سره څـه ډول چلنـد درلود، حتی له دښمن سره یې څه کول، دعوت یـې څرنګه پرمخ وړ، مثلا د یو قوم مشر ته یې پـه دې وجه خپل پټو(څادر) آوار کړ چې دهغه زړه مایلـه کړي، یا یې یو کس چـې ټمامـه بـن اوثـال نومیـده دیمامی اوسیدونکی دبن حنیفه دقبیلـی څخـه وو چې کافرانو د نبي کریم صلی الله علیه وسـلم قتـل ته را استولی وو، هغـه یـې ونیـو بیـا یـې د مسـجد نبوي په دروازه کې بنـدی کـړ، چـې د نبـي علیـه السلام او د صحابه کرامو چال چلنـد وګـورئ هغـه وو چې دریمه ورځ یـې ایـمان راوړ، همـدا ډول لـه مختلفو قومونو سره، دکفارو له نماینـدګانو سره، د مخورو خلکو حتی د جنګ پـه جریـان کـې یـې لـه کفـارو سره برخـورد څـه ډول وو، دا ټـول مـوږ تـه نمونې دي او باید موږ اقتـدا پسـې وکـړو او همـدا ډول جهاد وکړو، بل یـو کـس بـه کـافر وو صـحابه کرام به یې شهیدان کړي وو خـو چـې مسـلمان بـه شـو هرځـه بـه یـې عفـوه وو، نـن هـم زمـوږ جهـاد

انتقامي عمل نه دی، بلکې موږ دالله د رضا لپاره خلک چې د الله مخلوق ده دالله تعالی په امر سره دالله دین ته رابولو، نوخود به يې په هغه ډول رابولو چې الله تعالی او نبي کريم صلی الله عليه وسلم راته ويلي وي، دا ټول شيان زموږ مجاهدينو ته درس کيږي او ډير اصرارپرې کيږي.

داچې حاجي آغا له خپلو ډيرو مصروفيتونو سره سره او دموجوده سختو شرائطو باوجود موږته د معسکر څخه د ليدو او يا د تفصيلي مرکې وخت راکړ درځخه ډيره مننه کوو او د لا ډيرو موفقيتونو غوښتنه کوو.

دمعسکر اُستاذ:

د ياد معسکر څخه د ليدنې په مهال مو وغوښتل چې د معسکر د نظامي زدکړو له يوتن استاذ محترم عمرخالد صاحب سره هم لنډه مرکه وکړو، په معسکر کې د تعليم د جريان په اړه ترې وپوښتو او د مجاهدينو د روزنې د بهير په اړه معلومات ترې واخلو، استاذ دخپل زحمت او سعې په اړه او هم يې د انګيزې په اړه نظر واخلو، د حضرت خالد رضي الله تعالی عنه د معسکر استاذ خالد صاحب د سرپل ولايت اوسيدونکی دی او غواړو چې د ده پخپله ژبه ترې په دري ژبه پوښتنې وکړو.

پرسش: استاد محترم اگر لطف نموده اول خود را برای خوانندگان گرامی معرفی نمایید؟

پاسخ: نام من عمر خالد باشنده ولایت سرپل هستم، واکنون درمعسکر خالد بن ولید رضي الله تعالی عنه من حیث استاد امور نظامی ایفای وظیفه می نمایم و اکثر وخت جهادی خود را در فرا

گرفتن آموزشهای نظامی وپس آن را به مجاهدین رساندن سفری نموده ام .

پرسش: چه باعث شد که شما در امور جهادی استاذی معسکر و تربیه مجاهدین را اولویت دادید؟

پاسخ: من زمانی اسیرشده بودم و در زندان دشمن به سر می بوردم، در آن محبس برایم احساس پیداشد که مجاهدین ما در امور نظامی نیاز به تربیه و تعلیم منظم حربی دارند، زمانی که از زندان رها شدم، به معسکرهای جهادی رجوع کردم، اولاً به شکل مکرر خودم آموزش های نظامی را فراگرفتم وبعداً به اصرار مسئولین نظامی در این معسکر به حیث استاذ امور نظامی و حربی به خدمت جهادی ام پرداختم.

پرسش: شما حالت کنونی معسکر را چیطور می بینید آیا تمام نیازمندی های یک ارگان تعلیم وتربیه در امور نظامی اینجا فراهم است و وضعیت شاگردهای شما در جریان دوره تعلیمی چه قسم می باشد؟

پاسخ: ما در شرائط دشوار کنونی این معسکر را برای تمام امارت اسلامی یک غنیمت بزرگ میدانیم وچقدر که ما از امور نظامی میدانیم صد فی صد نیازمندی های مجاهدین در اینجا مرفوع شده، وضعیت شاگردها هم بسیار

خوب است، هر روز بطرف بهبود در حرکت هستیم، وضعیت صفوف جهادی را هم از نزدیک مشاهده میکنیم و به نظر می رسد که ایجاد معسکر نتیجه خوب و دلخواه را داده است و ان شاءالله هنوز هم به طرف جلو در حرکت است.

پرسش: بسیار خوش هستم که شما را در معسکر می بینم، در اینجا خو با مشکلات تعصب یا دیگر کدام رویش نادرست شما و یا شاگردهای شما مواجه نه میشوید، و پاسخ تان به این اعتراض بعض از بدخواهان چه است که میگویند طالبان یا امارت اسلامی ازیک قوم ساخت شده؟

پاسخ: الحمدلله که در جوامع دینی اعم از جهاد و مدارس دینی سخن از قوم و نژاد زده نه میشود، بلکی همه باهم برادر هستند وکفایت میکند که مسلمان باشند، ما افغانها همه مسلمان هستیم بسیار خوب است که من از صفحات شمال کشور از قوم ازبک توانسته ام که به برادران مجاهدین خود که البته ازتمام ۳۴ ولایات افغانستان در اینجا با ما مصروف تعلیم هستند و وابسته به تمام اقوام شریف افغان هستند، به آنها من حیث استاد بدون کدام تبعیض تدریس میکنم و آنها هم از من راضی هستند، در تشکیلات امارت اسلامی الحمدلله سخن از قوم و نژاد را من نه شنیده ام ونه هم چنین ذهنیت به کس داده شده، این چنین اتهامات همه توطئه دشمنان اسلام و افغانستان است که ان شاءالله جای را نخواهد گرفت.

پرسش: استاد محترم آیا شما از شاگردان که از معسکر فارغ شده اند و پس به صفوف جهادی برگشته اند، از آنها احوال دارید که چقدر فراگرفتن تعلیم نظامی برای آنها مفید بوده و نتیجه خوبی داده است؟

پاسخ: بلی! من از تمام صفوف جهادی آگاهی دارم، در مورد بهبود و تأثیر مثبت معسکر برصفوف جهادی کفایت میکند که فتوحات اخیر کشور را در هلمند، فراه، فاریاب، سرپل، جوزجان، کندز، تخار و بدخشان به گونه مثال پیش کنیم، در همه صفوف جهادی الحمدلله مجاهدین وجود دارند که از معسکرات نظامی امارت اسلامی فارغ شده اند و وضعیت جهادی را به نفع مجاهدین دیگرگون ساخته است.

از این که شما استاد گرامی با مصروفیت های زیاد به ما وقت مصاحبه دادید بسیار متشکرم جزاکم الله خیر

دمعسکر شاگـــــــرد:

له معسکر څخه د لیدنې په وخت کې مو وغوښتل په روزنه بوخت د معسکر له یوتن شاګرد څخه چې د کندز له ولایت څخه دی، لنډې پوښتنې ولرو، دمعسکر په اړه، دلته د سهولتونو په اړه او همدا راز د مسئولینو او استادانو دچال چلند په اړه ورسره لنډې خبرې وکړو.

پوښتنه: که لومړی ځان راته معرفي کړئ؟

ځواب: زه مولوي همایون د کندز ولایت د دشت ارچي د ولسوالۍ اوسیدونکی یم، له دیني

علومو فارغ شوي يم، او په معسکر کې مې دا دوهم ځل دی چې نظامي زدکړه کوم، ځکه ماوغوښتل چې زه پخپله مربوطه سیمه کې نورو مجاهدینوته دروزنې په برخه کې داستاد په صفت پاتې شم، نو د مسئولینو راته سپارښتنه وه چې زه د نظامي تعلیم دوره په مکرر ډول دوه ځله وکړم، ترڅو په خپله سیمه کې په ښه توګه د نظامي اعداد لپاره دخدمت مصدر وګرځم.

پوښتنه: داچې تاسو یو ديني عالم یاست، وجه څه وه چې د نظامي تعلیم لپاره مو متې بډ وهلي او نورو علماء کراموته مو مشوره څه ده چې باید دجهاد د جریان لپاره څه وکړي؟

ځواب: دا تعلیم زما په نظر هر مسلمان او بیا په خاص ډول مجاهد ته فرض دی، ځکه لکه څرنګه چې الله تعالی په قرآن کریم کې د واقیموا الصلوة امر کړی چې لمونځونه وکړي، همدا ډول یې د جهاد امر کړی چې (وجاهدوا ــ جهاد وکړئ) همدغه راز یې امر کړي چې (وَأَعِدُّوا لَهُم مَّا اسْتَطَعْتُم) یعني تیاری ونیسئ د کفارو په مقابل کې ځومره مو چې په وس پوره وي، نو زه اعداد او ځان په نظامي برخه کې د کفارو مقابلې ته تیارول واجب او فرض بولم، نو ټول علماء کرام ان شاءالله په دې ځای باندې پوهیږي، د ټولو فریضه جوړیږي چې دخپل وس مطابق اعداد وکړي او اوس الحمدلله په هرولایت او هرځای کې د نظامي زدکړې لپاره دا ډول ځایونه تیار شوي دي او هر مجاهد په آسانۍ سره کولای شي چې تعلیم اوزده کړه وکړي، له نورو خلکو څخه په لومړي سر کې علماء ډیر مسئولیت لري چې نور خلک هم د دوی پسې اقتدا وکړي، او ټول جهاد او نظامي تعلیم ته مخه کړي.

پوښتنه: د معسکر د تعلیم په جریان کې خو تاسو څه مشکلات نه لري، د مسئولینو لخوا، د استاذانو لخوا او د ماحول او ملګرو لخوا؟

ځواب: نه الحمدلله دلته له موږ سره ډیر له شفقت او مهربانۍ څخه ډک د وروی چلند کیږي، الحمدلله ټول په دین پوه خلک دي، که مسئولین دي که استاذان دي او که نور دمعسکر ملګري دي، ټول طالبان، علماء یا نیک مسلمانان دي چې په ديني او جهادی ماحول کې اوسیدلي او ډیر ورځځه خوشحاله یو، ارتیاوې مو پوره دي، دصحت او خوراک په برخه کې ښه توجه راته کیږي، د زدکړو په برخه کې ښه حرص او کوښښ راسره کیږي او زه خو ان شاءالله هیڅ داسې مشکل نه وینم چې درته بیان یې کړم، د مثال په ډول یادونه کوم چې دلته که ځوک په نظامی تدریباتو کې څه غلطی وکړي یا یې هغه خاص حرکتونه سم نه وي زده کړي، نو یې د جزا لپاره داسې طریقې ورته په پام کې نیولي چې هغه نورهم د مجاهد لپاره ترقي وي، مثلا ورته وایي چې دومره منډې اضافه ووهه، دا ډول حرکت دومره واري تکرار کړه، یا دومره وزن دومره ځله پورته کړه چې په اصل کې دا ټول کارونه بیرته د یاد مجاهد و روزنې ته ګټه کوي.

پوښتنه: تاسو ته دلته څه ډول موضوعات درښودل کیږي که لږ مثالونه یې راته یاد کړئ؟

خواب: موږته دلته د عسکري اعداد، د اسلحو دزدکړې او انفجاراتو د زدکړې نه علاوه، د قرآن کریم ترجمه او تفسیر د ډیرو ښو استاذانو او مفتي صاحبانو لخوا راته ښودل کیږي، سیرت راته بیانیږي، د صحابه کرامو تاریخ، کارنامې او دجهاد طرز او طریقه راته ښودل کیږي، دا خبره راته ښودل کیږي چې تاسو کله له معسکر څخه ووځئ، نو جنګ به نکوئ بلکې جهاد به کوئ، په دې معنا چې ټول کردار به مو دیو با اخلاقه مجاهد وي، چې دهر چا حقوق پیژني، اطاعت وکړي، دمسلمانانو خیال وساتل شي، نیت خالص لله فی الله شي، ظلم او تیری نه کوي، دجهاد آداب رعایت کوي، له بیت المال سره احتیاط کوي، له خلکو سره ښه سلوک او چلند کوي، حتی له دښمن سره ښه او سنت چلند کوي چې د مقابلې پرځای حقایق درک کړي او له جنګ او ګمراهۍ څخه لاس واخلي.

پوښتنه: دلته په جهادي معسکر کې او همدا ډول بهر له معسکر څخه د مجاهدینو ترمنځ خپل منځي حالت څرنګه دی؟

خواب: څومره چې زه تجربه لرم او پوهیږم په ټول جهادي صف کې چې هرځای مالیدلي دي د مجاهدینو ترمنځ که دهرقوم او ولایت پورې اړوند وي دخوږو وروڼو په څیردی، دلته په دننه د معسکر کې هم الحمدلله زه چې د مجاهدینو ترمنځ مینه محبت، وروروالي او اخلاص سره ګورم نو واقعا وایم چې دا هغه خلک دي چې الله تعالی یې په اړه وایي (انماالمؤمنون اخوة) مسلمانان سره وروڼه دي، نو هغه داخلک دي، دلته دهیڅ ژبې

اوقوم ترمنځ توپیر نشته، ټول دیوه هدف لپاره دیوه امیر ترقیادت لاندې دیوه آرمان لپاره سره راټول شوي او دالله تعالی د رضا لپاره سره جهاد او اعداد کوو.

پوښتنه : کله چې تاسو له معسکر څخه فارغ شئ نو بیا به بهر څه کوئ.

خواب: زما اراده مخکې تنها دجهاد وه، خو اوس مې لا ډیر دمسئولیت احساس وکړ چې زه به په خپل ځای کې معسکر فعالوم، دمشرانو د نګرانۍ او سپارښتنې سره سم به دنورو مجاهدینو لپاره د نظامي زدکړې زمینه مساعدوم، ان شاءالله ملګرو سره مې مشوره کړئ، ټولو مشرانو وعده راسره کړئ چې زه به په کندز کې د مجاهدینو د اعداد لپاره ډیر څه کوم. ان شاءالله

په دې ځای کې د خالد بن ولید رضي الله تعالی عنه راپورتاژ ته خاتمه ورکوو په دې هیله چې نور هم داسلامي امارت په صفوف کې نظم او دسپلین ټینګ شي او د ټولو مشرانو او کشرانو لپاره په دې لاره کې د لاډیرو توفیقاتو غوښتنه کوو. ومن الله التوفیق. پای

سرودونه (موسیقي)

مفتی محمدگل سعید

داسلام سپیڅلی دین په اصل کې دیومقدس هدف نوم دی،چې هغه دالله تعالی راضی کول دي، دغه هدف به انسان ته دژوندانه په هره برخه کې مهمه اوبنیادي غوښتنه وي،همدا وجه ده چې هرهغه څه چې دانسان اومسلمان له هدف اومقصد حیات سره اړیکې اوارتباط نه لري،هغه ته لغوه اوعبث ویل کیږي. دعبثیاتو له ډلې نه یوهم ټنګ ټکور اوموسیقي دی چې خلک دخپل حقیقي خالق له عبادت نه په غفلت کې اچوي.الله تعالی په قران کریم کې فرمایلي دي:

ومن الناس من یشتری لهو الحدیث لیضل عن سبیل الله بغیرعلم ویتخذها هزوا اولئک لهم عذاب مهین.

ژباړه:اوله همدې انسانانوڅخه داسې څوک هم شته چې چټي اوبابیزه خبرې پیري چې خلک دالله تعالی له لارې په بی علمی سره ګمراه کړي اوددغې لارې په بلنې پورې مسخرې وکړي،دغسې خلکو لپاره سپکوونکی عذاب دی.

په تفسیرطبري کې ذکردي چې له عبدالله بن مسعودڅخه پوښتنه وشوه چې لهوالحدیث څه ته وایی او مرادترینه څه شی دی، ده ورته وفرمایل چې مرادورنه غناء (سندرې) دي.همدارنګه عبدالله بن عباس اوجابررضی الله عنهم هم ویلي دي چې مرادورڅخه سندرې دي .حافظ ابن کثیر ددې ایت په تفسیرکې ویلي دي :وقال الحسن البصری نزلت هذه الایة فی الغناء والمزامیریعنې حسن بصري رحمة الله علیه ویلي چې داایت دسندرو اوشپیلیو وهلو په هکله نازل شوی دی.همداراز دکتاب الله له ډیرو نصوصونه دسرودونو اوسندرو ممنوعیت ثابت شوی

،لکه الله تعالی فرمایی:أفمن هذاالحدیث تعجبون وتضحکون ولاتبکون وانتم سامدون دانتم سامدون مراداومعنی عبدالله بن عباس (ض) اومجاهد(ح) سروداخیستی ،اودحمیراواهل یمن په اصطلاح کې سمدسندري ته وایی .

په بل ایت شریف کې راغلي دي ، واستفززمن استطعت منهم بصوتک واجلب علیهم بخیلک ورجلک الایة .

ژباړه، اووخوځوه (راګیرکړه) هغه څوک چې طاقت دې رسیږي په هغه باندې له دوي څخه په غږواوازخپل سره فسادته اوراتول کړه په دوی سپاره اوپیاده خپل.

دلته هم دحضرت مجاهد(ح) اوزیاتو علماؤ سلفو اوخلفوپه نزد موسیقي اومزامیرمرادکرل شوي دي.همدارنګه له (ولایشهدون الزور)څخه دزورتعبیر اوتفسیر امام مجاهد،امام ابوحنیفه، محمدبن حنفیه اونوروعالمانوپه سرود سره کړی دی، اوهمدا راز دلغو تفسیر په دې ایت کې (واذامروا باللغو مروا کراما) په سرواوسندروسره شوی دی.په حدیث شریف کې ذکر دي :ان الغناء ینبت النفاق فی القلب کماینبت الماء البقل .ژباړه، سندري په زړه کې داسې نفاق پیداکوي لکه څرنګه چې اوبه په پټي کې کښت راتوکوي اوزرغونوي.له دې حدیث شریف نه معلومه شوه چې په موسیقي اوسندرو باجوکې مشغول کیدل په زړه کې نفاق پیداکوي اوداشیان دمسلمان لپاره دهغه دایمان دضایع کیدوسبب جوریدلای شي.عالمانوپه دې کې دیرغوراوفکرکړی دی چې په دومره ګناهونوکې د موسیقي څه خصوصیت دی چې په دې سره نفاق پیداکیږي ددې خبرې لنډیزدادی چې دسرواوموسیقي اول خصوصیت دادی چې دادقران کریم مخالف دی اوپه یوحدیث کې دې ته دشیطان قران ویل شوی دی اودشیطان قران خویواځې نفاق پیداکوي نه ایمان نودتقابل یی دریې وجوهات دي .

۱ــــ په سرودکې مصروف کیدل دومره غفلت پیداکوي چې په انسان کې په قران کریم باندې دپوهیدلواوپه هغه باندې دعمل کولوجذبه اوشوق کمزوری کوي اویا یی ختموي اودیرځله دقران مجیدلذت خونددتلاوت څخه محسوسیږي نوپه دې طریقې سره انسان دقران کریم له انوارواوبرکاتونه محروم ګرځي.

۲ــــ قران مجیدچې څرنګه نبه صفات په خلکوکې پیداکوي اوددین تعلیم ورکوي

داسې سروددهغه برعکس تعلیم ورکوي اوبدصفات په انسان کې پیدا کوي .همدا وجه ده چې قران مجید اوموسیقي دواړه په یوه زړه کې نه شي جمع کیدلای ځکه چې قران کریم دنفساني خواهشاتودپیروي ځخه منع کوي اودپاک دامنی حکم کوي اوموسیقي دنفساني خواهشاتوبلنه ورکوي اونفس بدکاری ته هڅوي.

۳ــــ موسیقي دانسان عزم اووقار ختموي حال داچې عزم اووقاردانسان دژوند سره تړلې خبره ده اونازیباحرکتونه اوبې وقاري یواځې دمنافق جامه ده .یعنې کله چې دموسیقي مینوال په جوش کې راشي نوبې ځایه حرکتونه لکه سرتاوول ،لاسونوباندې اشارې کول ،چغې وهل او..... کوي ،چې داله انسانیت ځخه لرې کارونه دي.

همدارنکه دفقهاءکراموپه نزد دسرو دتول اقسام ناروا دي، صاحب دذخیرې لیکلي دي:واعلم ان الغنی مع جمیع انواعه حرام عندعلمائنا.

ژباړه:پوهه شه چې زمونږدعالمانوپه نزددتنګ تکورتول اقسام ناروااوحرام دي.همدارنکه امام قرطبی ویلی دي: ولهذا الاثار وغیرها قال العلماء بتحریم الغناء.

یعنې ددې اثارواوداسې نوروله وجې عالمانوقول کړی دی په حرامواليي دسندرو،اوپه حرامواليي یې علامه قرطبی دیرروایات نقل کړي دي.

ځینې له دین نه ناخبره اوناپوه خلکو تنګ تکوراوموسیقي دروح غذااودزړه دادبللی خوله الله تعالی ځخه ویریدونکی مومن هیڅکله هم تنګ تکوراوموسیقي نه دروح غذاګنی اونه دزړه داد،ځکه چې موسیقي حرامه ده،دفسق اوفجوراوداللّه تعالی ځخه دغفلت لویه ذریعه ده،له همدې لامله په قران کریم کې لهوالحدیث ورته ویلی شوی دی،په حرمت اوناورتیاکې یې اته ځلوینبت نبوی احادیث روایات کړی شویدي،چې دهغوله جملې ځخه دبیلګې په توګه لاندې یوحدیث راوړو چې شدیدوعیدپه کې دی:عن ابی هریره ان النبی صلی الله علیه وسلم قال:استماع الملاهی معصیة والجلوس علیهافسق والتلذذبهاکفر(نیل الاوطار۱۱۳مخ ۸توک)

ژباړه:له ابی هریره رضی الله عنه ځخه روایت دی چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:تنګ تکور (موسیقي)اوریدل معصیت دی،ورته

کیناستل فسق دی،خونداولذت ورځخه اخستل کفردی.

دپنځمې پیړۍ نامتوحنفی فقیه اومفتی علامه طاهربن احمدبخاری په خپل کتاب خلاصة الفتاوی کې همدغه پورتنی حدیث ذکرکړی دی اوویلي یی دي:ملاهي لکه شپیلی اوداسې نوراوریدل حرام دي،له همدې کبله رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:دموسیقي اوریدل معصیت دی اوهغې ته په اهتمام سره کیناستل فسق دی اوخوندورځخه اخستل کفردی،دنبی کریم صلی الله علیه وسلم دکفرکلیمه فرمایل دتهدیدپه توګه دي،مګرپرمسلمان باندې لازم دي چې له موسیقي ځخه ځان وژغوري.

علامه ابن عابدین شامي چې دعثماني خلافت ستراومعتمدمفتی وو،په خپله فتاوی ردالمحتارعلی الدرالمختارکې پورتنی نبوی حدیث ذکرکړی دی اوبیایی ویلي دي:په دې حدیث کې له کفرځخه مراد،دنعمت کفران اوناشکري ده.یعنې انسان ته الله تعالی دخوشحالتیانعمت ورکړی دی چې پرده باندې دهغه شکرکول واجب دي،هم پرژبه اوهم دجسم پرنورواندامونوباندې دالله تعالی عبادت کول،دالله ذکرکول مګرکله چې مسلمان دشکرکولوپرځای دالله تعالی اوده درسول منعه کړی اوحرام کړی شوی عمل دنفس اماره اوشیطان په لمسه وکړي اودموسیقي په ځیردمبغوض عمل مرتکب شي نودنعمت کفران شو.نوحقیقت دادی چې نن مسلمانان ځومره پریشان دي ،محتاج دي،خواردي، ذلیل دي اودکفارو دتجاوزاتو هدف ګرځیدلي یوازینی عامل یی داسلام مقدس نظام ته شاه کول اوله کفري نړۍ نه متاثره کیدل دي ،اوترځوپوري چې مسلمانان الهي نظام دخپل ژوندعملي قانون جوړنه کړي اودالله تعالی نظام ته تسلیم نه شی ترهغو پوري به داغیارو محکوم اوپه دنیااواخرت کې ذلیل اوخواروي .

په تعیش کې ډوب انسان ته!

م/محمد

نن نړۍ دډول ډول فتنو کوربنه ده ، خوپه دې ټولو فتنوکې دهمدې فتنو بنیاد او ستره فتنه نس پالنه یا په بل عبارت خیټیالوژي، شکم پروري او تن اساني ده چې نن همدا په نړۍ کې دژوند کولو ترټولو لوی مقصدجوړشوی ، دګران پیغمبر حضرت محمدصلی الله علیه وسلم دامت ډیر خلک هرسهار په دې هیله راپاڅي چې خیټه یې غوړه اولذتونه ترلاسه کړي .

دزهد اوتقوا ، اخلاص او ایثار غوندي فضائلو او اخلاقو نمونه اوس په دې امت کې پیداکول مشکل دي ،چې پایله یې په خپله په سترګو ووینو، چې نن ټوله نړۍ کې مسلمانان د مال دولت او اسبابو له ډېرښت سره سره دحرص ،طمعي ، زرطلبي اوشکم پروري په انګارکې سوځي او دسختي پریشانی اوسرګردانی په ساحل ولاړدي .

په اصل کې ددې نړۍ سوځونکي فتنې بنیاد هم هغه څه دي، چې څه دپاسه څوارلس سوه کاله وړاندي ګران پیغمبرحضرت محمد صلی الله علیه وسلم ورته اشاره کړي وه،

په آخرت یقین انتهایي کمزوری او دآخرت دنعمتونو اوراحتونو تصور تقریبا ختم شوی ، مادي نعمتونه او دهغوی دترلاسه کولو تصور په موږ دومره غالب شوی، چې آن روحاني کدرونه مو له لاسه پکي ورکړي ، همدالامل دی ،چې نن موږ دعزت اوذلت معیار په (ان اکرمکم عندالله اتقاکم) باندي نه برابرو ، بلکې په مونږ کې اوس داهرڅه دنس (خیټې) اوجیب په ډکوالي باندي پیمانه کیږي .

دمادیاتوپه دې سیلاب کې مولمړی ایمان اویقین له لاسه ورکړل اوبیا انساني اخلاق له خاورو سره خاوري او ورپسي مو درسول الله صلی الله علیه وسلم له اسوه حسنه سره اړیکي کمزوري شوي، چې له امله یې مو دنیکو اعمالو سرته رسولو طاقت هم له لاسه ورکړ ، ورپسي مو ټولنیز او کلتوري اخلاق بدل کړل ، سیاست اوتمدن مو تباه کړ او اوس خو مادیاتو انسانان دانسانیت له پولو ور هاخوا د بهیمیت پرلوري ورتیل وهل .

غرض داچې دې (دنس پالني) فتنې دټولي دنیاحالات بدل کړل ، دنړۍ ټول عقلاء دنس پالني دفتنې په وړاندي عاجز دي ، ساینس پوهان غواړي، چې ددې فتنې دهولناکو نتائجو تدارک وکړي، خو افسوس چې دعلاج لپاره یې بیا هم هغه شئ تجویزکوي، چې خپله دهمدې فتنې اومرض سبب دی،په حقیقت کې دالله تعالی جل جلاله له لوري رالیږل شوي پیغمبران دانسانیت نبض شناس دي ،هغوی چې ددې فتنې دعلاج په اړه کوم وړاندیزونه کړي، یوازي هم هغه مثبت علاج دی اوبس.

رسول الله صلى الله عليه وسلم په دې اړه فرمايي : والله لاالفقراخشى عليكم ، ولكن اخشى عليكم ان تبسط عليكم الدنيا كمابسطت على من كان قبلكم ، فتنافسوها كماتنافسوها فتهلككم كماهلكتهم (صحيح البخاري كتاب الرقاق باب من يحذر من زهرة الدنيا ۲/ ۹۵۱)

په الله قسم زه په تاسو دفقر له امله نه ويريږم ، بلكې زه ويريږم، په تاسو به دنيا پراخه شي (مادیات به مودیرشي) لكه چې په مخكينيو امتونو پراخه شول، نو تاسو به يې په ترلاسه كولو كې زياړباسي، لكه چې هغوى يې رغبت كاوه ، نو تاسو به هم همداسي هلاك كړي، لكه څرنګه چې يې هغوى هلاك كړل .

كورې! همدا هغه مهمه نكته وه، چې دانسانيت تنزل تري پيل شو ، يعني دنيا يو نفيس ، قيمتي اوعمده شي بلل اويوله بله يې په ډيره اندازه ترلاسه كولو كې هڅه كول

موږ وينو چې دلته رسول الله صلى الله عليه وسلم نه يواځې داچې ددې مهلك مرض تشخيص يې وكړ، بلكې له دې مرض نه دخلاصون لپاره يې يوه جامعه نسخه هم راته بيان كړه .

داحقيقت هروخت بايد په ياد ولرو، چې په دې دنيا كې موږ ډيوځو شړو ميلمانه يو ، ددې ځای ارام ، تكليف او مشقت هرڅه ختميدونكي دي ، دلته ټول لذتونه ، خوندونه او شهوات دآخرت د سترو نعمتونو او تل ترتله راحتونو په مقابل كې هيڅ دي ، دقرآن كريم په سلګونو آيتونوكې همدا حقيقت بيان شوى ، الله تعالى په سوره الاعلى كې په انتهايي بليغ مختصر اوجامعو الفاظو كې داحقيقت په دې ډول بيان كړى ﴿بل تؤثرون الحيوه الدنيا والآخره خير وابقى﴾ (يعني دزړه په غوږونو يې واورئ؟ چې : تاسو آخرت ته اهميت نه وركوئ) بلكې دنياوي ژوند ته (په اخروي ژوند) ترجيح وركوئ، حال داچې آخرت (تردنيا) ډېر ښه او ابدي دى.

په دنياكې داوسيدويه مهال بايد دآخرت په تياري كې مشغول شو ، او ډېرهيز په توكه بايد ټول حرام او مشتبه شيان زهرقاتل وبولو اوپه كلكه تري اجتناب وكړو ، مسلمانان بايد ددې ټرې په لذاتو اوشهوتونوكې دي له غرقيدلو څان وساتي ، ددنيا مال او اسباب ، ښځه او اولاد خپلوان اودوستان اونور دي، دژوندكولو يوناچاره ضرورت بللو سره يواځې دضرورت په اندازه مختار كړي ، په دوى كې بايد هيڅ شى ددنيوي ژوند دعيش اوعشرت په نيت غوره نه كړاى شي، چې دژوند ترټولو ستره لاسته راورنه او دژوند محصول يې وګڼي ،درسول الله صلى الله عليه وسلم په يوه مبارك حديث كې راغلي : اياك والتنعم ، فان عبادالله ليسوا بالمتنعمين (مشكوه المصابيح كتاب الرقاق ۲/ ٤٤٩) يعني له عيش اوعشرت څخه پرهيزوكړه ،ځكه چې دالله تعالى بندكان عيش پرست اوعيش طلبه نه وي .

تعجب دى چې ډيوه طبيب او ډاكټر په رايه اومشوره سره خو موږ ، شيدي ، غوري ، غوښه ، وريجي اوداسي نور پريږدو ، خو دكران پيغمبر حضرت محمدصلى الله عليه وسلم په واضحو ارشاداتو او دآسماني وحي په صاف ستره احكامو باندې يو كوچنى لذت پريښودل هم راته كران وي،

كه دنبي كريم صلى الله عليه وسلم ، دهغه دپاك آل او صحابه كرامو په ژوند او د ژوند په معياريانديې له اوله تراخره ښه نظر واچوو، نو راته

معلومه به شي، چې ددنيا له نعمتونو او مادي اسبابو سره زړه تړل سراسرجنون اوليونتوب دی.

په بخاري شريف دوهم توک ۸۱۵ مخ کتاب الاطعمه کې دحضرت ابوهريره رضی الله تعالی عنه يوه قصه روايت شوي چې : نومورې په يوه سيمه تېريده، چې دخلکو په وراندې سړي کړی شوي غوښې پرتې وي ، هغوی نومورې دخورلو لپاره دعوت ورکړ، خو حضرت ابوهريره رضی الله تعالی عنه ترې انکار وکړ او ويې فرمايل : رسول الله صلی الله عليه وسلم په داسې حالت کې له نړۍ رخصت شو، چې په اوربشينه ډوډۍ هم پوره مور نه شو.

مياشتي مياشتي به تېريدې ، خود نبوت په کور کې به نه دشپې څراغ لګيده او نه دورځې په پخلنځي کې اور، بلکه په خورما او اوبو به يې کوزاره کوله، کله کله خوبه هغه هم نه وو، په نس پورې به يې دلوږې له امله ډېرې تړلې وي اوپه همدې حالت کې به يې جهاد کاوه.

زهد، قناعت، فقر ،لوږه او د دنيا له ارايش، سازسامان اومادياتوڅخه بې رغبتي دنبوي سيرت امتياز دی، زمونږ په حال ډيرافسوس، مونږ خو دخپلو اسلافو هرڅه هيرکړل او ځانونه مو د نس اوخواهشاتو غلامان کړي،

ښکاره خبره ده، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم او صحابه کرامو دغه ژوند اودژوندانه همدغه طرز په خپله خوښه غوره کړی ؤ، ددې لپاره چې په راتلونکونسلونو باندې دالله تعالی حجت تام شي ، کنه نو که رسول الله صلی عليه وسلم غوښتې وای، نو دالله تعالی له لورې به څه نه وای ورکړل شوي؟

مګر ددنيا دا فاني ژوند چې مونږ يې په تړلاسه کولو پسې لالهانده يو، دالله تعالی په نزد دمڅ دوزر هومره اهميت هم نه لري ، بلکه ترټولو ذليل شئ دی، ځکه خويې خپل محبوب اومقرب بندګان نه دي وربانديې ککړکړي اوپه يوه مبارک حديث کې راغلي : که چيرته دنيا دمڅ دوزرغوندې اهميت درلودی، نو الله تعالی به کافر ته هيڅ هم نه وای ورکړي.

که څه هم بعض انبياء عليهم الصلوه والسلام ، صحابه کرامو ، تابعينو اونورو بزرګانو رحمهم الله تعالی ته الله تعالی سلطنت او دنياوي اسباب هم ورکړي وو، خو دې مال ، دولت اوسلطنت دهغوی په زهد اوتقوی کې هيڅ بدلون رانه ووست ، دهغوی سره چې هر څه وو، هغه ټول دنورو لپاره وو، دخپل ځان له پاره هيڅ هم نه وو ورسره!

خلاصه داچې د دې (نس پرستی) صحيح علاج هم هغه دی، چې انبياء کرامو عليهم الصلوه والسلام اوبيا په خاصه توګه رسول الله صلی الله عليه وسلم مونږ ته ښودلی، که انسان د نس له فتنې خلاصون پيداکړي، نو بيا به له نورو فتنو څخه هم ان شاء الله خلاصون پيداکولی شي، ځکه په نس وړی سړی کله نورخواهشات ترسره کولی شي ، اوله همدې دوو خواهشاتو نه ځان ساتلوته تقوی ويل کيږي چې دالله تعالی له لورې وربانديې ستر ستر انعامونه اوزيږي ورکړل شوي.

الله تعالی دي زمونږ په حال رحم وکړي اومونږ دي له تولو فتنو وساتي، آمين.

طلوع

چرا به همت غروب سوق داده شد؟

محمود احمد نوید

بعد از آنکه بالای کاستر حامل کارمندان و پرسونل تلویزیون طلوع (شبکه شیطانی و جاسوسی) حملهٔ فدایی صورت گرفت و تعداد زیادی از کارمندان و کارکنان این تلویزیون کشته و زخمی شدند؛ موجی از سر و صداها بلند شد که مجاهدین و یا طالبان چرا تلویزیون طلوع را هدف حملهٔ نظامی قرار داده در حالیکه خبرنگاری جُرم نیست و رسانه پادگان نظامی نمی باشد و به اصطلاح افراد و یا کارمندان تلویزیون افراد نظامی نبودند و ...؟

اگر خلاصه به این جواب بپردازیم فکر میکنم تا حدود زیادی سخن مجاهد صاحب در مصاحبه با شبکهٔ بی بی سی بخش پشتو به این پرسش پرداخته شده که ایشان در جواب خبرنگار بی بی سی گفتند: "ما نهاد رسانه ای را هدف حمله قرار ندادیم بلکه ما بالای یک شبکه استخباراتی اقدام نمودیم که ..." بله یعنی طلوع یک نهاد رسانه ای محض نبوده و نیست بلکه طلوع بنگاه خبری قوت های صلیبی، مرکز نشر- فحشاء و منکرات، تبلیغات علیه مقدسات اسلامی و هزاران فساد کاری است و همینطور این شبکه جاسوسی کاری جز بدنام کردن جهاد، مجاهدین و ملت شریف افغانستان نداشته و ندارد.

عزیزی در فیسبوک بعد از انجام حمله بالای کارمندان طلوع در کابل چه زیبا نوشت که:

قاسانی (یکی از خبرنگاران شبکهٔ یک است) نوشت: خبرنگاری جرم نیست!

حقانی می نویسد:

اما جاسوسی جرم است.

ترویج فحشاء و منکرات جرم است.

تبلیغ به نفع یهود و نصاری جرم است.

بی عفت کردن نسل با غیرت افغان جرم است.

شیر نشان دادن حکومت روباه صفت جرم است.

دست زدن به عفت ملت شریف قندوز و امثال آن جرم است.

ستاره خواندان مطربان بین المللی جرم است.

توهین و دهن کجی به مقدسات اسلام جرم است.

و صدها...

بله، تلویزیون طلوع تنها یک نهاد رسانه ای نیست و یا یک شبکهٔ خبری، که طالبان فقط به جرم خبر رسانی بالای کارمندان آن هدف نظامی انجام دادند بلکه این شبکهٔ فاسد، ترویج کنندهٔ هزاران بی حیایی در کشور مظلوم ماست و باعث هتک حرمت و دریده شدن عفت پاک خانواده های مسلمان افغان با نشر و پخش فیلم های مبتذل و منکرات می باشد.

همچنین مجاهدین هرگز دشمن بیان، رسانه و خبرنگار نیستند؛ و نه هم بیان را جرم، رسانه را ابزار جرم و خبرنگار را مجرم می گویند؛ البته مجاهدین زبان جاسوس را بریده، خانهٔ تولید فحشاء را به آتش کشیده و آدم های اُجرتی در خدمت اهداف صلیب که خواسته باشند نظام فرسودهٔ غربی ها را در سرزمین اسلام و شهداء ترویج بدهند را همواره هدف حملات نظامی خویش قرار خواهند داد تا دشمنان بدانند دهن کجی با مقدسات اسلامی چه عاقبتی به دنبال داشته و تا درس عبرتی برای دیگران شود.

اما جای بسی افسوس آنجاست که مجاهد نماهای دیروز که ادعای شان می شود بخاطر مبارزه با فحشاء و منکرات و ترویج عقاید ضد اسلامی با شوروی جنگیده اند به جای تقدیر از جانفشانی مجاهدین بخاطر ضربه زدن بر بنگاه های نشراتی دشمنان اسلام؛ و یا اختیار کردن سکوت مرگبار بخاطر قبول ذلت خودشان در عدم توانایی مبارزه با جاسوسی، فحاشی و عریانی رسانه های خبری، برعکس به عیادت زخمی های حادثه رفته و ستاره های شیطانی و مروج کنندگان فسق و فجور را مورد نوازش و اکرام قرار داده و قول حفاظت و تامین امنیت جانی بلندگوهای صلیبی را دادند!؟!

مثل عبدالله عبدالله!

آیا در تجارت دست آوردهای جهاد با روسیه توسط عبدالله هنوز هم باید تردید کرد؟

این بود ثمره جهاد با روسیه که به اسم مجاهد، این مجاهد نمای آرایشگر با ستاره های شیطان غمشریکی کرده و با این اقدام، به تمام توهین و تخریب های شبکهٔ جاسوسی و شیطانی طلوع، صحه بگذارد؟

تبریک به کسانی که به عبدالله رای دادند؟

رای به عبدالله آیا مگر رای به طلوع تلقی نمی شود؟

و رای به طلوع، آیا به معنای گذاشتن مُهر تایید بر فعالیت های ضد دینی شبکهٔ اهانت گر و بی عفت کن طلوع نیست؟

هیهات بر این ذلت و خُسران نا جبران!

دریغ از یکبار نشر اذان در شبکهٔ شیطانی طلوع!!!

... و این عوامل تنها بخشی از آنچه بود که باعث سوق داده شدن تلویزیون طلوع به سوی غروب و جهنم شد.

د مورچل دار الافتاء

مفتي ابوماريه

دماسخوتن دلمانځه په اړه

استفتاء : محترم مفتي صاحب ! موږ مجاهدين کله ناکله له داسي حالت سره مخ شو، چې دماسخوتن لمونځ په سپين شفق کې وکړو، نو په دغه وخت کې لمونځ کول صحيح دي اوکنه، اوبيااعاده غواړي اوکنه ؟

الجواب حامداومصليا وبعد:

دماسخوتن وخت دامام صاحب رحمه الله په نزد دسپين شفق ترلوېدلو وروسته داخليږي ، اودصاحبينو رحمهماالله په نزد، دسره شفق ترلوېدلو وروسته داخليږي ،ځينوفقهاوو لمړي قول ته ترجيح ورکړې ،اوهغه يې احوط بللی ، اوځينو بيادصاحبينو قول ته ترجيح ورکړې ، اوهغه يې اوسع بللی ، نوپه مذکوره صورت کې که چېرته دماسخوتن لمونځ ديوه عذرله امله په سپين شفق کې وشي نو شرعي مشکل نشته ،اونه هم دلمانځه اعاده شته .

لمافي جوهرة النيرة : كتاب الصلوة : ١ / ١٦٥ قَوْلُهُ : وَأَوَّلُ وَقْتِ الْعِشَاءِ إذَا غَابَ الشَّفَقُ عَلَى الْقَوْلَيْنِ) أَيْ عَلَى اخْتِلَافِ الْقَوْلَيْنِ عِنْدَهُ إذَا غَابَ الْبَيَاضُ وَعِنْدَهُمَا إذَا غَابَتْ الْحُمْرَةُ.

ولمافي الهنديه : كتاب الصلوة الباب الاول الفصل الاول في اوقات الصلوة : ١ / ٥١ ط / مكتبه رشيديه وَوَقْتُ الْمَغْرِبِ منه إلَى غَيْبُوبَةِ الشَّفَقِ وهو الْحُمْرَةُ عِنْدَهُمَا وَبِهِ يُفْتَى هَكَذَا في شَرْحِ الْوِقَايَةِ وَعِنْدَ أبي حَنِيفَةَ الشَّفَقُ هو الْبَيَاضُ الذي يَلِي الْحُمْرَةَ هَكَذَا في الْقُدُورِيِّ وَقَوْلُهُمَا أَوْسَعُ لِلنَّاسِ وَقَوْلُ أبي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللَّهُ أَحْوَطُ لِأَنَّ الْأَصْلَ في بَابِ الصَّلَاةِ أَنْ لَا يَثْبُتَ فيها رُكْنٌ وَلَا شَرْطٌ إلَّا بِمَا فيه يَقِينٌ كَذَا في النِّهَايَةِ نَاقِلًا عن الْأَسْرَارِ

ولمافي موسوعة الفقهية : ٧ / ١٧٤ يَبْدَأُ وَقْتُ الْعِشَاءِ حِينَ يَغِيبُ الشَّفَقُ بِلاَ خِلاَفٍ بَيْنَ أَبِي حَنِيفَةَ وَصَاحِبَيْهِ ، إِلاَّ أَنَّهُمُ اخْتَلَفُوا فِي مَعْنَى الشَّفَقِ ، فَذَهَبَ أَبُو حَنِيفَةَ إِلَى أَنَّ الشَّفَقَ هُوَ الْبَيَاضُ الَّذِي يَظْهَرُ فِي جَوِّ السَّمَاءِ بَعْدَ ذَهَابِ الْحُمْرَةِ الَّتِي تَعْقُبُ

غُرُوبَ الشَّمْسِ ، وَذَهَبَ الصَّاحِبَانِ إِلَى أَنَّ الشَّفَقَ هُوَ الْحُمْرَةُ ، وَهُوَ مَذْهَبُ جُمْهُورِ الْفُقَهَاءِ .

و كفاية المفتي : ١ / ٤٧٦

په موټرکې دسفر دلمانځه په اړه

الاستفتاء : محترم مفتي صاحب زه له کابل څخه جلال آبادته سفرکوم، مثلا ،نوکه لمانځه ته موټر ونه دريږي ،نوزه په موټرکې په اشاره سره لمونځ کولی شم ؟ اوکه يې کولای شم، نوپه څه دول سره يې وکړم؟

الجواب : حامداً ومصلياًوبعد :

په مذکوره صورت کې که ممکن وي، په ولاړه دي قبلي ته مخ کړي اولمونځ دې اداءکړي ،اوکه دلويدوياديرنګيدو خطر وي ،نوپه يوشئ پسې دې تکيه ولګوي ،يادې په يوشئ پوري لاس ونيسي ،اوکه قبلي ته مخ ګرځول ممکن نه وي ،نوبيادي ددووسيټونو په مينځ کې ودريږي ،اوقيام اورکوع دې کوي ،اودسجدي لپاره دې بيرته په سيټ کې کښيني اوپه وراندي سيټ که ممکن وي،نوسجده دې پرې ولګوي ،اوکه دسيټونوپه مينځ کې ولاړه ،يارکوع اوقبلې ته دريدل هم ممکن نه وي ،نوبياچې په هرډول ممکن وي، هغسې دې وکړي ،مګر دداسې لمانځه اعاده پرې ضروري ده.

لمافی الخلاصة (١٩٣/١) :ومن الاعذار ان يكون الدابه جموحاً لونز ل لايمكنه الركوب ...

وفی الهنديه (١٤٣/١) :ولاتجوز المكتوبة على الدابة الامن عذرٍ .

وفی رد المحتار (٥٩٥/٢) : ...ای اشتراط عدم القدر ة على النزول ، فی الفرض ...ان كلاًمن اتحاد المكان واستقبال القبلة شرط فی صلاة غير النافلة عند الامكان لايسقط الابعذرٍ .

الفتاوى المحمودية (٥٣٢/٧) :

غاښونوته پوښونه ورکول څرنګه دي؟

الاستفتاء : محترم مفتي صاحب !زه يومجاهديم ،په خوله کې مي پرچه لګيدلي ده ،څه غاښونه مي مات يانيمګړي شوي ،داکتران وايي، چې غاښونو ته پوښ ورکړه، نوپوښتنه داده، چې غاښونوته داسي پوښ ورکول،چې بيانه ځيني اوړي ،څرنګه دي؟ اوبياغسل اواودس ورسر صحيح ده اوکنه؟ يومجاهد.

الجواب حامداومصليا وبعد:که دارتيا له مخې غاښونه وک شي، ياپوښ ورکړل شي، نو شرعاکوم مشکل نه لري ،اوکه محض دتزين[بنکلا] لپاره وي بيا داعمل صحيح نه دی.

لمافی منهاج السنن ٥/ ٢٢٢:عن طبراني فی معجمه الأوسط،ان النبی صلى الله تعالى عليه وسلم:امر عمر بن العاص رض أن يشد ثنيته

الساقطه بالذهب،وعن معجم الصحابة ان عبدالله ابن أبي سلول أمره النبي صلى الله تعالى عليه وسلم:ان يتخذثنية من ذهب،وفي مسنداحمدان عثمان ابن عفان رض ضبب أسنانه بذهب،وروى الطبراني ان اسنان انس رض شدت بالذهب.

وفي الهندية٥/ ٣٣٦:وقال:محمدرح في جامع الصغير: ولايشدالأسنان بالذهب، ويشدهابالفضة يريد به اذاتحركت الأسنان وخيف سقوطها فاراد صاحبهاان يشدهابالفضة ولايشدهابالذهب وهذاقول أبي حنيفة رحمه الله.

وفي فتاوى العصرص ١١:يجوزللرجال حين الضرورة،أماوضع الأسنان للرجال من أجل الزينة فلاتجوز.

ومثله: في جديدفقهي مسائل ١/ ٣١٩، وفتاوى عثماني ١/ ٣١٤،وفتاوى فريدية ٢/ ٧٣،واحسن الفتاوى ٢٣٢.

والله تعالى اعلم

كه دوه وروڼه په يوه مشترک کارکې هريوجلاجلا نذرومني

الاستفتاء : محترم مفتي صاحب ! زموږ دوورونو هريو خانته خانته داويلي وو، چې که زموږ بندي مجاهدورور راخلاص شو، زه به دالله تعالى لپاره يوپسه حلالوم اوخيراتوم به يې. اوس يې هغه مجاهد ورور راخلاص شو، نوپه دوئ دواړو نذر لازميږي اوکه يو ورور چې هغه پسه حلال کړي له هغه بل څخه کفايت کوي ؟ يوطالب .

الجواب حامدا ومصليا وبعد:

په مذکوره صورت کې، پر دواړو ورونو جدا جدا نذر لازميږي، البته هغه وخت که يې دنذر الفاظ ويلي وو، څکه چې نذر په نيت سره نه لازميږي . ددې خبر پې يادونه هم بايد وکړو :چې دنذرشوي پسونوڅخه چې حلال شي، دنذرکونکو اصول اوفروع به يې نه خوري ،اوهمداراز به دغه غوښې په مساکينو تقسميږي .

قال الله تعالى : وَلْيُوفُوا نُذُورَهُمْ الاية سورة الحج ٢٩

ولمافي الهدايه : فصل في الكفارة : ٢ / ٧٦ ومن نذر نذرا مطلقا فعليه الوفاء لقوله عليه الصلاة والسلام من نذر وسمى فعليه الوفاء بما سمى.

وفي جوهرة النيرة :كفارة اليمين : ٥ / ٣٣٠ وَإِنْ عَلَّقَ نَذْرَهُ بِشَرْطٍ فَوُجِدَ الشَّرْطُ فَعَلَيْهِ الْوَفَاءُ بِنَفْسِ النَّذْرِ ...الخ

٣ - ومثله في فتح القدير:فصل في الكفارة : ١٠ / ٤٧٨. والله اعلم

سعید بدخشانی

عدالت و امانت
دو شرط حکمرانی

إِنَّ اللهَ يَأْمُرُكُمْ أَن تُؤدُّواْ الأَمَانَاتِ إِلَى أَهْلِهَا وَإِذَا حَكَمْتُم بَيْنَ النَّاسِ أَن تَحْكُمُواْ بِالْعَدْلِ إِنَّ اللهَ نِعِمَّا يَعِظُكُم بِهِ إِنَّ اللهَ كَانَ سَمِيعاً بَصِيراً } النساء۵۸]

ترجمه:

خداوند به شما فرمان می‌دهد که امانتها را به صاحبان آن برسانید و هنگامي که میان مردم داوري مي‌کنید از روي عدالت داوري کنید، خداوند پند و اندرزهاي خوبي به شما مي‌دهد خداوند شنوا و بیناست.

تأکید بر ادای امانت

هرکسی که امانتی به وی سپرده شد،مطابق این آیت کریمه،بر او واجب است که امانت را عیناً به صاحبش مسترد نماید.نبی کریم صلی الله علیه وسلم نسبت به ادای امانت،شدیداً تأکید فرموده است.حضرت انس رضی الله عنه می فرماید که خیلی کم اتفاق می افتاد که رسول کریم صلی الله علیه وسلم خطابه بفرمایند ودر آن نگویند: ((لایمان لمن لا امانت له ولادین لمن لا عهدله)) یعنی کسی که امانت دار نیست او مؤمن نیست وکسی که به پیمان وقولش متعهد نیست او دیندار نیست.

خیانت نشانه نفاق است

در بخاری ومسلم از حضرت ابو هریره رضی الله عنه وعبدالله بن عمر رضی الله عنهما روایت شده است که رسول خدا صلی الله علیه وسلم روزی علامات نفاق را بر شمرده، وازآنها یکی این را بیان داشتند که هر گاه امانت به نزد او گذاشته شود،خیانت کند.

در اینجا این امر قابل تأمل است که قرآن کریم لفظ امانت را به صیغه جمع تذکر داد که در آن اشاره به این است که امانت تنها این نیست که مال کسی به نزد کسی دیگر ودیعت گذاشته شود که عموماً آنرا امانت گفته وفهمیده شود،بلکه اقسام دیگری هم دارد.در شأن نزول این آیت واقعه که ذکر شده است،که آن واقعه بعدا بیان خواهد شد،امانت مالی وجود نداشته وکلید بیت الله مال خاصی نبود،بلکه این کلید علامت منصب خدمت بیت الله بود.

شأن نزول آیت کریمه

